فرمان الهي

مياشت د روژي هغه مياشت ده چه نازل کړي شوي دي په دي کښي قرآن چه هدايت دي له پاره د خلقو او دليلونه دي ښکـــاره (له جنسه د مغو شيانو) چه مغه لاره ښيي او بيلـــوونکي د حق او باطل دي .

(بقره -١٨٥)

شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک مرکزي نشراتي ارګان

ارشاد نبوي

وقتي ماه رمضان داخل شد دروازه هاي جنت باز و دروازه هاي دوزخ بند شوند و شياطين اسير و زنداني گردند .

(نسائي)

دريم کال پنځمه ګڼه پرله پسي (١٠٥) ګڼه چهارشنبه د ١٣٧٦ هـ ش کال د سلواغه دمياشتي (١) د١٩٩٨ ميلادي کال جنوري (٢١) د١٤١٨هـ ق کال د رمضان المبارك (٢٣)

تذکر خطر ايمان است اگـــر به اين کلمات مقدس بي حرمتي کنيد .

د وحدت ګوند د دوو ډلو تر منځ د سختو نښتو په ترځ کـــي څلور تنه وژل شوي او په لسهاو ټپيان شويدي

د باميانو د ولايت د لعل سر جنګل په سيمه کي د وحدت ګوند د دوه و ډلو تر منځ ورمه ورځ هم سختي نښتي وشوي چي په نتيجه کي يې د يوي خوا څلور تنه وژل شوي او په لسهاو ټپيان شوي دي په خبر کي ويل شويدي چي مقابل لوري د خپلو وژل شويو افرادو د جسدونو غوښتنه کوي خو دښمنان يې د وژل شويو افرادو د جسدونو ورکولو ته تيار نه دي .

له باميانو ه رارسيدلي خبرونو کي ويل شويدي چي په باميانو کي ميشته څواکونه يو په بل د پوره بي باوري او بي اعتمادي په فضا کي ژوند کوي او هره شيبه د خونړيو نښتو احتمال د عوامو خلکو ژوند له تشويش او انديښنو سره مخ کړيدي .

خبر زياتوي چي د اهل تشيع د بيلا بيلو ډلو تر منځ د اختلافاتو لمن ورځ په ورځ پراخيږي .

دانسان د جنس بدلول د شريعت خلاف کار دي

د کويټ محکمه

کويټ (اي ان ان)

د کويټ محکمي د انسان د جنس بدلول غير شرعي کار بللي دي .

د تفصيل له مخي د کويټ يوه ٣٥ کلنه ښځه په ١٩٩٢ کال له کويت نه بهر هيواد ته په سفر تللي وه او د عمليات په واسطه يي خپل جنس بدل کړي و (ځان يي نارينه کړي وو) چي له دي کار نه وروسته دي ښځي (اوسني سړي) غوښتل چي په خپل قومي شناختي پاس (تذکره) او نورو اسنادو کي ځان نارينه ثبت کـړي او د کويټ د عامي روغتيا د وزارت لخوا يي د خپل جنس د تبديلي تصديق هم راوړي و دي اس مع

د کانونو او صنايعو د وزارت سرپرست او د شريعت اوونيزي پخواني مسؤول مدير الحاج مولوي احمد جان له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

د طالبانو د اسلامي تحريك د هيلو، عقايدو، افکارو د ترجماني او د دښمنانو د پروپاګند د ځواب لپاره مو شريعت اوونيزه تأسيس کړله

شريعت اوونيزي په لږ وخت کي د مطبوعاتو په ډګر کي نوم ووست او په خارج او داخل کي يې لوستونکي پيدا کړل

له شريعت اوونيزي سره مي د اړيکو دساتلو لامل ډير مصروفيتونه او په اوسنيو مسؤولينو پوره باور او داد دي

محترم الحاج مولوي صاحب احمد جان !

تاسي چي د شريعت اوونيزي د مؤسسينو له جملي نه ياست ستاسي له دي اقدام نه ډيره ستاينه او مننه لطفاً ووايāست چي شريعت اوونيزه مو په څه ډول شرايطو کي پيل کړله ؟

محترم حاجي صاحب : موږ له دي سره ډيره علاقه او دلچسپي لرو چي پدي وپوهيږو چي تاسي د شريعت اوونيزي د لومړني مسؤول مدير په توګه ولي له شريعت اوونيزي سره علاقه او دلچسپي نلري ؟

د لومړي پوښتني ځواب :

د طالبانو اسلامي تحريك په ډيرو داسي سختو شرايطـــو کي شروع شو چه د افغانستان خلـــك نور دي حدته رسيدلي وو چه له افغانستان څخه ووزي .

او ډير هغه مهاجر خو دوباره پاکستان ته وايس شول چه د محترم مجددي صاحب په وخت کي وطن ته راغلي وو لنډه دا چي په اس مع

د فارياب ولايت په مربوطاتو کي د ګلم جم مليشو څو حملي د خداي (ج) په نصرت په شا وتمبول شوي

د فارياب ولايت په مربوطاتو کي د اسلامي اردو د مجاهدينو په ميړانه او متانت د مکار دښمن څو تعرضونه په شا و تمبول شول .

د فارياب ولايت د قيصار له ولسوالي نه د شريعت اوونيزي نظامي خبريال خبر راکړ چي : د اسلامي اردو اتلو مجاهدينو د روژي په مبارکه مياشت کي د لوي خداي(ج) په نصرت سره د شرميدلي دښمن څو تعرضونه په شا تمبولي دي او اوس هلته دښمن خپل جنـــګي مورال بالکل له لاسه ورکړيدي .

په خبـــر کي ويل شـــويدي د اسلامي اردو د پرېکنده ګـــوزارونو په نتيجه کي ګـــلم جم مليشو ته درونډ مـــالي ، نظامي او ځاني تلفات ورســـيدل اوس هلته حالات نورمال او وضع ارامه ده .

په خبر کي دا هم ويل شويدي چي د قيصار سره نږدي په دوآبه سيـــمه کي هم د اسلامي اردو د مجاهدينو سنګرونه مضبوط دي . د غورماچ له ولســـوالي نه زمونږ خبريال خبر راکړ چي په دي ولسوالي کي هم وضعه ارامه ده او د هغه ځاي مســـلمان خلك اسلامي امارت سره د نيوي سپين توغ تر ســـيوري لاندي هري همکاري ته چمتو او په عادي ډول خپـــلي ورځني چاري پر مخ بيايي .

د پاکستان له يوه موزيم نه د احمد شاه بابا يادګاري توپك غلا شوي دي

نواي وقت ورځپاڼي په خپل يوه کالم (سياست نامه) کي د پاکستان له موزيمونو نه د ځينو لرغونو آثارو د غلا يادونه کړي او پدي اړه يې د سندي ټايمز او نيشن پر ليکنو هم حواله ورکړي ده .

د نواي وقت مشـــهور کالم ليکونکي ښاغلي «اثرچوهان» پدي اړه ليکلي : پدغو آثارو کي د احمد شاه ابدالي او نادرشاه دراني يادګاري توپکونه هم شامل دي .

د احمد شاه بابا او نادر شاه يادګاري توپك چي د پوليس کالج په سهاله موزيم کي ساتل کيدل معلومه نده چي موزيم دغه آثار څه وړ اوکله تر لاسه کړي دي. سري ويل شي چي دغه پيښه په افغانستان کي ددغـــي آثارو دور کي او غلا د څنګير کړي ګڼل کيږي .

چينـــايي زراعتي متخصصينو د پنجشير دوره وکـــړه

چينايي زراعتي متخصصينو د پنجشير څخه ليدنه کړيده او داسي يې څرګنده کړي ده چي دوي به په زراعتـــي چارو کي خپلي مرستي او همکاري زياتوي او د ځاګـــانو دويستلو چاري به پر مخ بيايي .

دوي پخـــپله دوره کـــــــي د نظار شوري د ډلګي مـــــشر احمد شاه مسعود سره هم ليدلي دي .

کتونکي وايي چي په حقيقت کي د دوي د سفر هدف په زراعتي چارو کي مرسته نه بلکه د مســـعود سره په نظامي چارو کي مرسته او د افغانستان په داخلي چارو کي لاسوهنه ده .

څرنګه چي پنجشير يوه غرني سيمه ده او دزراعت له پلوه هيڅ اهمـــيت نلري نو څـــرنګه امکان لري چي هلتـــه دي البوم مع

په خداي «ج» د عقيده لرونکو امريکايانو شمير ورځ په ورځ زياتيږي

يو اويا په سلو کي خلك د خداي "ج" په وجود يقين لري

په خداي او معجزو د باور لرونکو امريکايانو شميـر ورځ په ورځ زياتيږي او اوس يو اويا په سلو امريکايي کي خلك د خداي«ج» په وجود يقين لري.

نړيوال خبري سرچينو د يو برطانوي اخبار د سروي له مخي ليکلي چي د امريکا ٧١ په سلو کي اوسيدونکي وايي چي مونږ د خداي«ج» په وجود کي هيڅکله هم شك نه لرو .

ددي سروي له مخي په ١٩٨٧ م کال کي په خداي د عقيده لرونکو امريکايانو شمير ٦٠ په سلو کي وو خو اوس دا شمير په سلوکي ٧١ تنو ته رسيدلي خو په دوي کي ډير کسـان د خپلي عقيدي د اظهار له پاره عبادتځايونو ته نه ځي په سلو کي ٤٠ تنه وايي چي دوي هره يکشنبـه د عبادت لپاره کليسا ته ځي خو حقيقت دا دي چي کليساو ته د تلونکو شمير په سلو کي ٣٠ ته ډير نه دي .

آزادي هاي شخصي زنان ترکيه سلب گرديد

استانبول : گــــزارشات اخير از استانبول حـاكي است كه حكومت موجوده تركيه محصلات پوهنتون را از پوشيدن چادر منع كرده اند . پروفيسور سليمان مسغلان در يك اطلاعيه به شاگردان خبر داده است در صورتيكه چادر پوشيده باشند از داخل شدن به محوطه پوهنتون منع كرده خواهند شد .

راپور مي افزايد كه تركيه در اين رابطه از سيكولر ترين كشور هاي اروپايي هم سيكولر تر عمل ص ٨

د امريکا جمهور رئيس بل کلنټن د جنسي بريد په تور محکمي ته احضار شو

په تيرو ورځو کي د امريکي جمهور رئيس بل کلنټن د هغي دوســـي له امله محکمي ته حاضر شو چي يوي ميرمني (پاول جونز) د جنسي ورانديز له امله پري عريضه کړي وه . ميرمن پاول جونز په محکمه کي عرض کړي چي کله اووه کاله مخکي بل کلنټن د ټکساس والي وُ د يوه هوټل په خونه کي يي ورته د جنسي عمل وړانديز کړي و خو کله چي يي دده وړانديز ونه منانه له کلنټـو ترفيعاتو پاتي کړي شوه پاول جونز دا هم ويلي چي د هوټل په خـونه کي بل البوم مع

خاتمي په C.N.N کي د انقلابي اصولو مخالفه وينا کريده

د ايـــران وقـــاريي له خاورو سره برابر کړ

د ايران ولس او مطبوعات

د ايران مسلمانانو او ايراني مطبوعاتو په سي، ان، ان (د امريکا په تلويزيون) کي د خاتمي په وينا سختي نيوکي کړيدي اود خاتمي دا وينا يي د ايران د انقلابي اصولو سره مخالفه بللي ده .

د ايران رسالت، جمهوري اسلامي، خيام قدس او ورځپاڼو د خپلو سختو نيوکو په ترځ کي ليکلي دي چي خاتمي چي د سي.ان.ان په تلويزيون کي کومه وينا کړيده هغه د خميني د انقلابي اصولو په البوم مع

امارت اسلامي افغانستان به جوانان بي بضاعت وکم توان کشور در چوکات شريعت عطف توجه مزيد نمايد

در تکميل ايمان، شخصيت مسلمان و در تطبيق شريعت ازدواج ارزش بسزاي دارد

به اداره محترم هفته نامه شريعت!

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته

و بعد : هفته نامه شريعت كه ارگان نشراتي و بيانگر اهداف و الاي اسلامي طالبان افغانستان در چوكات شريعت غراي محمدي «ص» بوده و نشرات آن قابل توصيف و تمجيد مي باشد بنده حقير كه از جمله علاقه مندان و شايقين هميشگي اين جريده مي باشد قبل از همه و به نماينده گي از ديگر دوستان علاقه مند هفته نامه كه اغلباً از قشر جوانان مي باشند، و ابراز امتنان خويشرا براي دست اندركاران و مسؤولين هفته نامه شريعت ابراز نموده در اخير بخاطر وسعت نظر هر چه بيشتر خواست جوانان در چوكات شريعت غراي نبوي «ص» پيشنهاد ميگردد .

چون در شـرايط موجوده براي اينكه جلو فساد اخلاقي گرفته شده بتواند و هم امارت اسلامي افغانستان توانسته باشد تا يكبار ديگر كار نامه هاي خلفاي راشدين ، سلف صالح و روش ديگر مردان بزرگ اسلام را در اذهان مردم زنده نمايد. ايجاب مي نمايد تا براي يك عده از جوانان بي بضاعت و ناتوان از بودجه بيت المال امارت اسلامي كه در چوكات اداره «عشر و زكات» جمع آوري شده براي بي نوايان و مستحقين توزيع ميگردد ، اگر درين پروسه توزيع يك بخش جداگانه براي جوانان بي بضاعت مستحق كه در سن قانوني ازدواج مي باشند يك اندازه مساعدت مالي و نقدي صورت گيرد بهتر خواهد شد . نه تنها اين شيوه جلو فساد اخلاقي را از دامن جوانان و فاميل هاي آنان تا اندازه بي پاك نموده، و از جانبي هم خوشنودي خداوند بزرگ «ج» مبني بر تطبيق امر شريعت اداي سنت و ازدياد امت آنحضرت «ص» از طريق ازدواج شرعي نيز بدست آمده ميتواند. چون ازدواج يك امر ضروري ص ٤

د کندز ولايت مشهور جهادي شخصيت او نامتو قوماندان محترم الحاج ارباب محمد هاشم له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي :

مونږ اميد لرو چي په الهي نصرت سره به ډير ژر تخار بدخشان او په نورو شمالي ولاياتو کي د اسلامي امــــارت سپين بيرغ په رپيدو شي

کندز ته د اسلامي تحريك د مجاهدينو په راتګ ســره شريعت نافذ امنيت ټينګ او د ولس ډيري ستونزي حل شوي دي

کندز ولايت د اسلامي تحريك په راتګ سره د بيا ودانيدو په درشل کي دي

پوښتنه : محترم امر صاحب ارباب محمد هاشم خان ! هيله کوو چه په لنډه توګه د شريعت لوستونکو ته خپل ځان معرفي کړي !

جواب : زه ارباب محمد هاشم د کندز ولايت د چهار دري ولسوالي اوسيدونکي يم او په الهي رحمت سره په دي توانيدلي يم چه د نور محمد ترکي له وخته نيولي تر اوسه پوري خپل مسلحانه جهاد ته ادامه ورکم او د آينده لپاره مي هم دا ارزو ده چه د اســلام د مـــقدس دين د البوم مع

د کروندي د تباهي له کبله په اندراپرديش کي ٣٠ تنو ځانونه ووژل

دکروندي لپاره يي په سود پور اخستي وو چي د هوا د خرابوالي له کبله تباه شوه

نوي ډهلي (کې پي اي)

په اندراپرديش کي دفصل د تباهي له کبله د ٣٠ تنو ځان وژونکو پاتي شونو (ورثه و) په دي ايالت کي سـتر لاريونو نه تر سره کړل ، مظاهره کوونکو له صوبايي حکومت نه وغوښتل چي خپله هغه وعده پوره کړي چي له دوي سره يي کړيوه .

د تفصيل له مخي څو ورځي وړاندي د هند د اندراپرديش په ايالت کي د هوا د خرابوالي له کبله ډيري کروندي تباه شوي چي د کروندي د تباهي د خفګان له کبله ٣٠ تنو خپل ځانونه ووژل البوم مع

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

امريکا ولي د اسلامي اصولو اود افغانانو د اسلامي او ملي روايتونو سپکاوي کوي ؟

امريکا او غربي هيوادونو چي ښځي خوارکياني د خپل هوس لپاره لوبځي ليږي کړي دي او له نارينه وو سره يي په تعليمي، اداري او ټولنيزو چارو کي يو ځاي کړي دي او په دغه توګه د بشريت ددغه محترم او شريف صنف توهين کوي او بيا دغه کار دښځينه وو دغولولو لپاره بشري حقونه بولي(!) ، له دي سره سره چي د ژوند نظام يي د اخلاقي انحطاط له امله د ړنګيدلو په درشل کي دي او د ايډز لبوني سيلاب په مخه کړي دي لا بيا هم غواړي خپل لعنتي کلتور په نورو پرګنو، ان تر دي چي په مسلمانانو هم ورولي، په داسي حال کي چي د نړي تر دريمي برخي زيات استوګن د اسلام په مقدسو اصولو ايمان لري او هغه اصول له سره دا نه مني چي د اخلاقي فساد په ناروغتيا اخته کسانو دغوښتنو لپاره دي د مخلوط فرهنګ او کلتور په را منځ ته کولو سره ټول بشريت په اخلاقي انحطاط، اجتماعي تباهي او ايډز په افتونو اخته کړي؛ او دغه محترم بشري موجود (ميندي خويندي) توهين او دهوسونو لوبتکي، ميندي او مزدورانۍ شي؛ له دي سره سره داسلام پيروانو له غربي ټولنو ته دا غوښتنه کله هم نه ده کړي چي غربي ښځي دي پر توګ واغوندي ټيکري او چادري دي په سر کړي، له نارينه وو نه دي جلا کړاي شي او نه يي د هغه فرهنګ او کلتور غندنه د ميرمن بونيتو، ميرمن البرايت او کارل انډر فورت په سويه کسانو کړي ده لکه دوي چي په اسلامي حجاب، د نرو او ښځو بيلتون او نورو اسلامي زرينو اصولو پوري خاندي او د هغو پخلاف ويناګاني او غندني کوي، د مسلمانانو د لوړکيچ رجالو د نړي په سطحه دوي ته نه دي ويلي چي : بي حجابي، لغړ توب او مخلوط ژوند د فحشا ، لاره ، د وحشت تقليد ، د بي پته او کرغيړن ژوند نښه ده مګر ميرمن بنيتو وايي : (... حجاب د ذلت او اسارت نښه ده ...) سره له دي چي حجاب د عزت، درنښت پت او مصؤنيت نښه ده ؛ د امريکا د بهرنيو چارو وزارت چي په وار وار وايي : (... امريکا د طالبانو حکومت په رسميت نه پيژني تر څود ښځو حقونه ورنه کړي ؛) يعني تر څو چي درني پښتني افغاني ميرمني بي حجابه، د هوس والو د هوسونو لوبتکي ، بي پته او سپکي نه کړي - لا سمح الله - ؛د افغانستان اسلامي امارت به څرنګه - نعوذ بالله تعالي- دغه د زهرو غړپ وکړي؟ چي د امريکا دوهم مخ

حزب رفاه اسلامي در ترکيه غير قانوني اعلام گرديد

نجم الدين اربکان و هفت نفر از يارانش براي پنج سال ديگر در فعاليت هاي سياسي اشتراك کرده نميتوانند

انقره : حـزب رفـاه اسلامي نجم الدين اربكان كه در انتخابات پارلماني اخير كرسي هاي زيادي را نظر به ديگر احزاب كسب نموده بود ، از طرف محكمه دولتي قانون اساسي تركيه منحل اعلام گرديد. م چنان فيصله گرديده است كه رهبر رفاه اسلامي نجم الدين اربكان و هفت نفر از هم كارانش تا پنج سال ديگر در فعاليت هاي سياسي اشتراك كرده ص ٨

په ډهلي کي امنيتي حالات ورځ په ورځ خرابيږي

په دي ښار کي شپږ نوري سينماګاني هم بندي شوي

په ډهـــلي کي د امنيتي حالاتو د ګډوډي له کبـــله خلك له اضطراب او انديښنو ســـره مخ شويدي .

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي په نوي ډهلي کي د هندي حکومت له خـــوا د امنيتـــي حـــالاتو په کنتـــرول کي له البوم مع

د برطانيي حکومت د مسلمانانو اداري په رسميت وپيژندلي

د مسلمانانو لپاره يي د ځانګړو تعليمي ادارو اجازه ورکړله

لندن(اي کي اي) د برطانيي حکومت په مشروط ډول د مسلمانانو لپاره د زده کړو د ځانګړو ادارو منلو فيصله کړيده . ص ٨

حکومت چين در نظر دارد که به جـــز از اسلام به ساير اديان اجازه فعاليت بدهد

حكومت كمونيست چين در رابطه به آزادي مذاهب در آنكشور دين اسلام را از ليست اديان حذف نموده و قرارات بخاطر آزادي مذاهب در چين يك تن پروتستانت يكتن رومن كاتوليك (عيسويت)و يكتن يهودي به چين سفر نمايند.

منابع خبري جهان از واشنگتن گزارش داد كه حكومت چين بخاطر ارضاي حكومت امريكا در رابطه به آزادي مذهبي به سران مذهبي امريكا كه مشتمل بر پروتستانت، كاتوليك و يهودي مي باشند اجازه داده است كه به چين سفر نمايند. اما حكومت چين راجع به دين اسلام سكوت نموده و كلنتن رئيس جمهور امريكا نيز در اين باره از خود عكس العملي ص ٨

تحت هيچنوع شرايط براي هيچ کسي اجازه نميدهيم که به عنوان حقوق بشر، حقوق زن و... در سدد تحميل ارزش هاي طاغوتي خود ها بر جامعه اسلامي و افغاني ما شوند

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ
په پاکستان کی (۲) کلداری
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه/سرك۱۱/ کور (۵۲۰)
تیلفون : ۲۱۳۸۱ – توزیع و شکایات ۶۲۸۵۹
پوست بکس : (٤۷۱)
په پیښور کې : دطالبانو نمایندګی/ تیلفون: ۸٤٤۳۲۱–۸۱۸۱۵۷–۸۱۵۶۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

د سرمقالي پاتي برخه

د رسمیت پیژندلو لپاره خپل دین، روایات اسلامي او ملي دودونه تر پښو لاندي او خپلي خویندي میندي د غرب د خوشالولو لپاره لوڅي لغړي، بې پټه د غربي کرغېړن تمدن مینځي او مزدو راني کړي او د هوس دلیوانو په رمه کي بې ورګډې کړي ؟؟! څنګه به وکولای شي د خپل مسلمان او با تور ولس له غوښتنو نه تیر شي چي هغوي په خپل هیواد کي د اسلام احکام اواصول عملي کول غواړي، د هغه لپاره بې په لکونو ورونه، زامن او د زړه ټوټې قرباني کړې دي، په لس ګونو کلونه هجرت او بې وطني، لوږې تندې ، ګرمي، ساړه او تکلیفونه بې ګاللي دي؟!

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د رسمیت پیژندلو سوغات لپاره دا شرط هم ډیر تکراروي چي :(تر څو پراخ بنسټه حکومت ونه مني نو مونږ د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژنو ....) سره له دي چي د الله تعالی رضا د افغانانو او د دوی د اسلامي نظام د بایښت تضمین کوي نه د غرب او امریکا خوشالول : مونږ بیا هم وایو : که د پراخ بنسټه مطلب دا وي چي د هیواد د ټولو پرګنو او قومونو نیکان، پرهیزګار او په کار پوه خلك په حکومت کي راوستل شي – لکه مونږ چي په وار وار ویلي دي – نو دغه کار د افغانستان اسلامي امارت لا پخوا پیل کړي دي او تر ډیره حده بې په وړاندي بیولی دي .

او که بې مطلب هغه دېکته شوي مشخص پراخ بنسټه ایتلافي حکومت وي چي روس، امریکا او د دوی مزدوران بې غواړي نو د هغه مزه خو افغانانو د رباني په توره دوره کي څکلي ده او هغه بې د تل لپاره مسترد کړي دي؛

پردې بر سیره دغه شرط منطقي او معقول نه دي بلکي د تحمیق او غولو لو یوه لاره ده دا ځکه چي که د دوی له غوښتني سره سم ایتلافي حکومت جوړ هم شي – لا سمح الله –، د هغه په رسمیت پیژندل بیا د اوسني اسلامي امارت پیژندل نه دي یعني ددغه شرط په تحقق سره انتفاء د مشروط لازمیږي او شرط خو د مشروط د تحقق لپاره وي .

د افغانستان اسلامي امارت له ژمني سره سم د علماوو کرامو شرعي پریکړه د ستونزو د حل یوازني لاره بولي،له پیل نه د جنګ په ځای د اساسي خبرو اترو پلوي کوي او عملي لاره بې لټوي، اوس که د اسلامي شریعت او افغانانو دښمنان د اسلامي امارت مخالفینو ته راز راز پلمې په خوله کي ورکوي دغه کار په نظامي رسوا مداخله برسیره یوه بله سیاسي مداخله ده چي افغانان به بې د تل لپاره یاد ساتي؛

د علماوو کرامو په پیشنهاد شوي شورا کي د اهل سنت والجماعة علماء، ځکه شرط دي چي د افغانستان په تاریخ کي له حنفي فقهي پرته بله فقه او مسلك رسمي نه دي ګڼل شوي : دلته یو ځل بیا غواړو ښاغلي اندرفورت ته دا خبره ور په زړه کړو چي افغانان نه غواړي، لکه څنګه چي میرمن البرایت او د هغې پلویان بې خوښوي – د دوی خویندي میندي او لوڼي د عصمت او حیا له سینګار نه بې برخي شي، د فحشا اوتا ولتیا کرغېړن ډګر ته راووزي؛ ځکه حجاب او عفت پالنه د افغانانو د عقیدې، مذهب او کلتور یو غټه برخه او مهمه غوښتنه ده افغانان هیڅ چا ته دا حق نه شي ورکولای چي پردي کلتور وربانندي وتپي؛ ښاغلي فورت چي د افغانستان له اسلامي امارت سره خپل سیاسي اړیکي په هغه څه پوري تړي چي دوی د ښځو حقونه ورته وایي د هغه په ځای د خپل سیاست د افغانستان په هکله په واقعیتونو پوري وتړي، نه د ملتونو د مذهب او کلتور په بدلولو پوري؛ ځکه د نړیوال منل شوي نورمونه هم دانه مني چي سیاسي اړیکي د ملتونو د مذهب اوکلتور په بدلون پوري وتړل شي؛ دا چي د امریکي د ښځو ټولني د یو څا په لسون په افغانستان کي د ښځو د حقونو په هکله مظاهره کوي کاشکي (!) دوی هغه وخت دغه کار کړی وای چي د تیرو رژیمونو په وخت کي افغاني میرمني په سلګونو تیریو ظلمونو او ستونزو اخته وي؛ کاشکي(!) دوی یو ځل هغه وخت د افغاني میرمنو مصیبتونه او یو ځل اوس د دوی مصؤنیت او عزت پخپلو سترګو لیدلای وای؛ کاشکي(!) دوی د خپل امریکایي څیړونکي بروس ریچاردسن ورونستني څرګندوني چي واقعیتونه پکي منعکس شوي دي په غور سره اوریدلي وای؛ امریکا ته مناسبه ده چي له افغانانو سره خپل تاریخي او دوستانه اړیکي په ډیره بیړه سره د افغانستان د دښمنانو په غوښتنه خړپړ نه کړي او که دا کارو هم کړي هیڅ ګټه بې پکي نشته ده . زمونږ هیله ده چي غربي نړي او په تیره امریکا د افغانستان په هکله مثبته او د دواړو هیوادونو په ګټه کړنلاره بدله نه کړي . د افغانستان له اسلامي امارت نه داسي غوښتني و نه کړي چي نه بې زمونږ شریعت مني او نه بې د افغانستان ملت غواړي؛

د افغانستان اسلامي امارت به خپل یون په خپله غوره کړي شرعي لاره جاري ساتي، د چا د ملامتیا پروا به نه کوي او د هیواد د ستونځي د شرعي حل لپاره به خپلي هلي ځلي جاري ساتي . انشاء الله تعالی

د جوګي نسخه

پټي پاڼي

شهرت ننګیال

په پیښور کي زما پر پوست بکس همیشه بیلا بیلي خپرونې راځي چي ځیني یکي ډیري ارځښتناکي او په زړه پوري هم وي . ډیر وخت له هندوستان نه یوه خپرونه راتله چي د عبد الله نوم پري کښلی ؤ،ما داسي ګڼله چي د خپرونې چلوونکو د عبدالله پته غلطه کړي، خوبش پدي وم چي یوه خپرونه مي تر لاسه کوله او له نویو انکشافاتو سره مخامخ کیدم .

وروسته د خپرونې د منبع په پاړه کي زما نوم لیکل شوي ؤ او ورسره یوه پته، د ټیلفون نومره او دا ښکار چي ضرور ورسره په تار خبره وکړم د خپرونې لیږونکي آشنا وخوت خو تلیفوني اړیکي راته ستونزمني وبرښیدي .

اوس یو ځل بیا له هندوستان نه د یوي خپرونې د یوي مقالي پوټو کاپي رارسیدلي،لیږونکي بې بیا هم نا معلوم شخص دي چي ښایي یو وخت معلوم شي – یوټو کاپي د یوي اوونیزي مجلي د دوو مخونو ده چي پاکستان ته د استاد رباني د سفر په اړه یو جالب مطلب لري . په لیکنه کي زیاتره هندي ټکي کارول شوي چي لیږونکي ورسره په پنسل د هغو ژباړه هم کښلي ده . مجله د هندوستان تر فلمي نړي پوري اړه لري چي د «مالیوود» په نوم خپریږي په غالب ګومان دغه سر لیك د امریکي د «هالیوود» په لیکه اېښودل شوي چي د امریکي د فلمي نړي عنوان ګڼل کیږي .

نوموړي مجلي د افغانستان د شړل شوي جمهور رئیس ښاغلي رباني په اړه د هندوستان د یوه مشهور جوګي ګل چرن سنګهه یو حیرانوونکي انکشاف خپور کړي دي .

ګل چرن سنګهه وایي : دا دوهم ځل دي چي ښاغلي رباني د خپلي راتلونکي په اړه د خپل یوه نژدي سلا کار په واسطه د معلوماتو غوښتنه کوي، له دغه ریوت سره د ښاغلي رباني د کېڼ لاس یو تصویر هم خپور شوي چي دده د قسمت کرښې پکښې په نخښه شوي دي،جوګي ګل چرن سنګهه چي په ټول هندوستان کي یو مشهور جوګي او نجومي دي او په پاکستان کي هم ګڼ شاګردان لري دوه ځله کابل ته هم بلل شوي په دوهم وار ده د جمهور رئیس د ډاډ لپاره خپل پالل شوي بنګالي طوطي هم وړي ؤ چي هلته د ښاغلي رباني په وړاندي خپلي کرشمي وښیي او د قسمت لیك بې راپورته کړي جوګي ګل چرن سنګهه چي په خپل بنګالي طوطي ډیر نازیده دا یو ناوړه تصادف ګڼي چي دده طوطي د جمهور رئیس په وړاندي سترګي بدلي کړي،پاڼو ته به بې وکتل خپله کړه او سره مښو که به بې پري تیره کړه خو د پاڼي له اوچتولو به تیر شو. ګل چرن سنګهه په خپل ځانګړي مهارت څو څو واره پاسته نخود ور تر خولي کړل خو طوطي دغه رشوت ته هم غاړه کړه نه کړه . ګل چرن سنګهه وایي چي د طوطي انکار ښاغلي رباني نور هم وارخطا کړ ده داسي وګڼله لکه هغه ډاکټر چي د ځنګندن په حال کي ناروغ ته د اپریشن او دارو ورکولو نه ډډه وکړي .

دي وایي سره لدي چي د جمهور رئیس په وړاندي د خپل ناځوانه طوطي له لاسه په شرم و اوبتم خو ځان مي کنترول کړ او د جمهوري رئیس د «دزایچي» په معلومولو مي د یوي ورځي مهلت وغوښت .

ګل چرن سنګهه وایي په راوتلو مي د طوطي سري تاوکړه او ځان مي لدي غمه خلاص کړه،دي اوس هم حیران دي چي دا خپله بدمرغي وبولي که د طوطي؟ اویا هم د جمهور رئیس؟ خو د طوطي قرباني یو بد شګون ګڼي چي تر اوسه بې د هغه مظلومه اروا ځوروي، له همدي ځایه ده چي دغه راز مطبوعاتو ته ورکوي .

د مجلي پروینا له ګل چرن سنګهه سره یو ځل بیا د استاد افسر بکار خاص اړیکي ښیي . او په بنګلور کي خپل استاد ته چي د جنوبي آسیا د عاملینو ، نجومیانو او جوګیانو مرشد ګڼل شي رجوع کوي او پدي توګه پاکستان ته د استاد د سفر پر مهال د تارا سائیس د سفر زمینه برابریږي .

په دغه ورځ چي پاکستاني مطبوعاتو د ښاغلي رباني د مصروفي ورځي خبرونه خباره کړل د شاهي میلمستون مسوولینو د ویتا له مخي هغه یواځي له دریو تنو سره ورځ تیره کړه دغه دري کسان یو تارا سائیس بل ګل چرن سنګهه او دریم هم ناپیژندویه رابط ؤ .

ګل چرن سنګهه وایي ښاغلي رباني لکه چي زمونږ انتظار ډیر ناکراره کړي ؤ نا آرامه او اندیښمن ښکاریده خو بیا هم دده څیره په هغه ښکلي بازو لرونکي څوکۍ کي ډیره په زړه پوري معلومیده ماته دده معصومانه کتل داسي ورېرښیدل لکه دده ټولي هیلي او وروستي ارمانونه چي له موږ سره تړلي دي پداسي حال کي چي د لومړي ځل لپاره مي پر خپل ښکار زړه سوځیده . دده پر دغه احساس مي خندا راغلله،ده په الوتي څیره سپینه ږیره هوښه داسي ښکاریده لکه راجندر کمار چي د کوم فلم په مصنوعي مذهبي رول کي د بمبۍ سټوډیو ته راغلي وي . جمهور رئیس سپین ګردي وړوکي پټکي تړلي ؤ، منظم او نفیس لباس بې اغوستي ؤ د میز پر سر ورته څو چاپي پاڼي پرتي وې،پاڼو ته مي وکتل د پاکستان د ځینو مشهورو نجومیانو اشتهارونه ؤ،پدغه پاڼوکې یو د پروفیسر ناګر اشتهار ؤ چي په غټو کرښو پکي لیکل شوي ؤ:د ټولو نجومیانو، کوډګرو اوعاملینو نه ټهیلي حضرات دي همدا نن موږ ته مراجعه وکړي ټول ارمانونه به بې پوره شي؛ بل اشتهار د پروفیسر بی ای احمیري ؤ چي ښه اوږده پریړه بې لیکلي وه : هغه حضرات چي د ژوندانه په کشمکش کي د ناکامي له امله ستړو ستړو نجومیانو او کوډګرو ته په ورتلو مأیوس شوي، ویرږيږي دي ته – پروفیسر بی ای احمیري به بې دا نن ټولي پریشاني لیري کړي .

د ایس ایس کاظمي او نسیم جعفري اشتهار پاڼې هم لاندي پر قالینه پرتي وي چي ځانونه بې د فلکي پوهي ماهرین او د نوري علم د کرشمو متخصصین ګڼلي وو .

د فیصل آباد (پخواني لائلپور) د مشهور نجومي ایس، ایم ناګي چي ځان د نوري علم ماهر بولي او د تقدیر د بدلولو ادعا کوي اشتهار پاڼه هم لیدل کیده،دي په مدراس کي زما کلاس فیلو ؤ چي ښه سره پیژنو او یو بل ته معلوم یو په زړه کي مي وویل که داسي وي نو په نړي کي به څوك بد مرغه او ناکام نه واي پاتي شوي ټول به خوشاله او بریالي وو،زه پوهیږم چي دغسي مدعیان زیاتره ټګان دي او په بیلابیلو لارو د خلکو پیسي لوټي، خو اوس بې چي د یوه جمهور رئیس جیب ته لاس رسیدلي د کمال خبره ده ماته ډیر ژر څرګنده شوه چي ښاغلي رباني ددغه نجومیانو په اړه ډاډمن نه دي، ځکه خومونږ خپل عملیات پیل کړل. د ښاغلي جمهور رئیس د لاس ګوتګي له پخوا زیاتي شوي وي مونږ ته معلومه شوه چي پدغه دوو کلونو کي دي له څومره کړاوونو او فشارونو سره مخامخ شوي د لاس ورغوي بې تك سپین ؤ چي سره سره چاپونه ډیر جوت پکي لیدل کیدل ، ماته دغه چاپونه د هغو وینو تصویر ښکاره شو چي دده په هیواد کي دا څو کاله په ډیره بیدردي سره توییږي دده ستوري همداسي په ګرډش کي ؤ زایچي بې دا ښودله چي همداسي به د مریخ او مشتري تر منځ لاالهانده او اضطراب به بې دوام ولري .

ګل چرن سنګهه پر نجومیانو او جوګیانو د اندراګاندي، بینظیر بوټو او حتي جرالډ فورډ د اتکا او اعتقاد څو خاطري هم یادي کړي او د واکمنو دغه ذهنیت بې ان د فرعون د وخت د سحر او ساحري له تاریخ سره تشبلولي دي .

ده په پدي اړه نور معلومات بلي ګڼي ته پرېښي څرنګه چي ځان د حکیم اجمل خان د شاګردي مدعي او سجاده نشین هم ګڼي د جمهور رئیس په حضور کي جوګ او نجوم ته داسي پر ځای د طب او حکمت یوه نسخه وړاندي کوي چي له استعمال سره به بې ضروروسند سر ته ورشي او لدي جنجالونو به ځان فارغ کړي . ده چي جمهور رئیس ته!! په خپله نسخه کي د کومو داروګانو توصیه کړي هغه دا دي : د اعصابو اکسیر کشته معجون ا طیر پل کبیر – خمیره خشخاش، معجون استخودوس، خمیره ګاوزبان عمبري – جن سنګ ګولي، د صندل شربت او ځیني نور معجونیانت چي نومونه بې ډیر ثقیل معلومیږي .

(که د مقالي پاتي برخه تر لاسه شوه ضرور به لوستونکو ته وړاندي شي)

سیر تحول خانقاه و پیدایش آن

تتبع و نګارش از مهر الله دردمند

۹

در سرزمین پهناور هندوستان در گسترش عرفان اسلامي در دوره مغول ها به توسعه خانقاه ها و دیگر مراکز خیریه توجه همه جانبه صورت گرفت. فرهنگیان عرفان مشرب چون امیر خسرو بلخي، خواجه صاحب معین الدین چشتي «رح» که طریقه عالیه چشتیه شریف به اسم مبارکشان مسمي گردیده است و عارفان دیگر چون فرید الدین گنج شکر، داتا گنج بخش ولي و رهروان دیگر ایشان علي الخصوص بعد از ظهور حضرت امام رباني مجدد الف ثاني شیخ احمد فاروقي کابلي (سرهندي) که ذریعه کارنامه هاي جهادي و عرفاني خویش دنیاي اسلام را از ارشادات اجتهادي خویش متکي بر دستور شریعت غراي محمدي «ص» منور گردانیده و هم انقلاب عظیم را در ساحه دعوت و تبلیغ در سراسر عالم اسلام ذریعه دست پروردگان خویش بنیاد نهاده و به ثمر رسانیده اند که شرح کارنامه هاي این فرزندان راستین اسلام در مقاله فعلي گنجایش نداشته و ان شاء الله در مبحث آینده ادامه خواهیم داد این نکته را قابل یاد آوري میدانم که اکثریت متورین دیار هندوستان از این سرزمین مرد خیز وطن عزیز ما در طي سالهاي متمادي در آنجا هجرت نموده و در ارتقاً عرفان، ادب و فرهنگ اسلامي از خود حماسه آفریدند و ثبت تاریخ جاودان نمودند .

و این مطلب را باید اشاره نمایم خانقاه که در سرهند شریف از طرف امام رباني در هزارم هجري تاسیس و اداره گردید در طي تقریباً دو قرن در تربیه فضلا ، علما حقاني و شخصیت هاي علمي روحاني و اعزام آنها بخاطر وحدت و خدمت به سراسر ممالك اسلامي نقش خیلي ها عالي و ارزنده را احتوا نمود که نظیر آن در تاریخ تکرار نگردیده است، و در شرایط موجوده هیچ دانشگاه و جامعه اسلامي به شمول جامع الازهر در مصر و غیره را با خانقاه سر هند شریف در زمان امام صاحب رباني (شیخ احمد فاروقي) و بازماندگانش نمیتوان قابل مقایسه دانست که نوید گفتار خویش این مطلب را از رساله « کار نامه هاي جهادي» حضرت مجدد الف ثاني نقل و براي آگاهي بیشتر عزیزیان علاقه مند در قید تحیر مي آوریم

« در زمان حضرت امام همه بي حکمداران بزرگ دولتي نیم قاره هند و خراسان به شمول خانواده سلطنتي آن دوره شخصیت هاي علمي و عرفاني در راه پیشبرد امور دیني و تطبیق حکومت الهي در فضاي صداقت و صمیمت از خط مشي دیني و عرفاني حضرت مجدد الف ثاني پیروي و همکاري نمودند .چنانچه حضرت امام در سال ۱۰۲۹ هـ در راه توسعه و تعمیم بخشیدن به جهاد تبلیغي امور دیني و عرفاني خود و بخاطر همبستگي جهان اسلام اقدامات وسیع و مؤثري را براه انداخت و همه یي سرزمین هاي جهان اسلام را در راه تطبیق حق و عدالت الهي، مبارزه علیه باطل و استبداد حکام وقت بالخاصه در راه تقویه و همبستگي شخصیت هاي علمي و عرفاني جهان اسلام دعوت نمود بناءً در راه تطبیق و تعمیل این برنامه وسیع و موثر دیني عده زیادي از روحانیون و علماي جید و برازنده آنزمان را به ترتیب ذیل تحت یك اداره تنظیم سالم در نقاط مختلف جهان اسلام و به تمام کشور هاي اسلامي اعزام داشت .

۱ – هفتاد نفر استادان روحاني علمي و علماي حقاني تحت امارت شیخ محمد قاسم بدخشي بصوب ترکستانات غربي و شمالي از قبیل ترکیه ، قازان، تاتارستان، باشقرستان، قفقازات، جزیره نماي کریمه، خوارزم و آذربایجان و آسیاي میانه اعزام گردیدند .

۲ – چهل نفر علماي جید روحاني را تحت قیادت حضرت شیخ فرخ حسین لاهوري به کشور هاي اسلامي جهان عرب از قبیل حجاز، یمن، بغداد، شام، مصر و غیره کشور هاي عربي اعزام داشتند .

۳ – سي نفر از علماي معروف عرفاني را تحت امارت حضرت شیخ احمد برکي به سرزمین خراسان آنزمان فرستادند

.ادامه دارد

د شریعت تبصره

دموکراسي در ترکیه به دار آویخته شد

ترکیه که در عصر و زمان خلافت عثماني بزرگترین پایگاه سیاسي و نظامي جهان اسلام و خار چشم دنیاي غرب صلیبي و ماسونیزم یهودي پنداشته میشد ، متأسفانه امروز یکي از بزرگترین مراکز سیکولرستي (لادیني)در جهان اسلام محسوب میگردد .

غرب صلیبي در گذشته ها براي از پا در آوردن خلافت اسلامي عثماني شب و روز را یکي کرده بود که در این فعالیت ضد خلافت، عناصر یهودي همه اندوخته هاي مادي و معنوي خود را به کار انداختند – زیرا یگانه مانع بزرگ در راه رسیدن یهود به سرزمین موعود (فلسطین) خلافت عثماني پنداشته میشد – باالاخره در ۳ مارچ سال ۱۹۲٤ میلادي خلافت عثماني ملغا شده جدایي دین از دولت و الغا محاکم شرعي اعلان شد ، مدارس دیني مسدود ، حجاب زنان رفع و تمام احکام اسلامي و شعایر الله ملغا و منع قرار داده شد، به این صورت ترکیه که براي پنج قرن مرکز خلافت و عظمت جهان اسلام بود به یك مرکز و پایگاه ضد دین و مذهب مبدل گردانیده شد . یهود به یگانه هدف و مقصد خود(تأسیس دولت مستقل یهودي در سرزمین فلسطین) دست یافت .

گروه هاي که از جذبه و روحیه دیني و اسلامي بي بهره گردانیده شده بودند و حتي اصلاً مسلمان نبودند و مربوط به حلقه هاي یهودي مشماول «سلانیك و دونمه » پنداشته میشدند، تحت شعار ملي گرایي و آوردن دموکراسي و ترقي بر مقدرات ترکیه دست یافتند و به اریکه قدرت سیاسي و دولتي رسانیده شدند .

زمامداران سیکولر ترکیه تمام هم و غم خود را متوجه جلوگیري از نشر و پخش اسلام و فعالیت هاي عناصر مسلمان نموده و به قانون سیکولر ترکیه طوري تقدس بخشیدند که جزئي ترین فعالیت و حرکت علیه آن جزاي مرگ را در بر داشت ، همه فعالیت هاي سیاسي و حتي آزادي هاي شخصي که به شکل از اشکال رنگ و روحیه مذهبي داشت از بین برده شد .

ادنان مندرس صدراعظم سالهاي ۱۹۵۰ – ۱۹۶۰ ترکیه به جرم احیاي شعایر اسلامي و تقارب با اعراب علیه اسرائیل و به گناه اخراج سفیر اسرائیل از ترکیه به انتقاد شدید یهودي هاي جهان و شخصیت هاي مقتدر یهودي دونمه قرار گرفته توسط جنرال ماسوني (جمال گورسل) در ۱۹۶۰ میلادي در نتیجه یك کودتاي عسکري از اریکه قدرت دور و اعدام شد . آوانیکه سلیمان دیمیرل صدراعظم وقت ترکیه و رئیس جمهور فعلي در پي نزدیکي با جهان عرب شد به اثر فشار یهودي هاي ماسوني از چوکي صدارت معزول گردید .

داکتر نجم الدین اربکان رهبر حزب اسلامي رفاه ترکیه که متأسفانه حزبش از طرف کمیسیون قانون اساسي ترکیه در این اواخر منحل اعلان گردیده در ۱۹۶۸ میلادي وقتیکه رئیس اتاق هاي تجارت ترکیه بود تجارت را در فلسطین با اسرائیل ممنوع اعلان کرد که در نتیجه آن از وظیفه خود سبکدوش گردید . اربکان غرض تشدید و مؤثر گردانیدن فعالیت هاي خود به تأسیس حزب بنام نظام اقدام نمود و بعد از انحلال آن حزب به تأسیس حزب رفاه ترکیه توصل جست ، حزب رفاه به فعالیت هاي ضد اسرائیلي دست زده به افشا گري هاي فعالیت هاي جاسوسي اسرائیل در ترکیه پرداخت و در ۱۹۸۰ میلادي مظاهره، را علیه اسرائیل سازمان دهي نمود که در آن بیرق اسرائیل به آتش کشانیده شد حزب اسلامي رفاه که در ۱۹۷۲م به میان آمده بود در همان سال در انتخابات عامه ٤۸ چوکي پارلمان را از خود کرد ، اربکان رهبر حزب رفاه در ایتلاف با حزب مردم به رهبري اجاوید معاون صدراعظم شد . حزب رفاه در این مقطع زمان در مورد تعلیم و تربیه فرزندان ترکیه به اساس تعالیم و روحیه اسلامي اقدام کرده به تأسیس ۳ هزار مراکز تعلیم قرآن و ۳ صد مدرسه غرض تربیه امامان و خطیبان مساجد اقدام کرد که به این مدارس بیش از دو صد هزار فرزندان ترك مراجعه کردند ، اجازه رفتن حج را به مردم ترکیه ارزاني داشت و از حکومت خواست تا به جاي رخصتي روز یکشنبه ، روز جمعه رخصتي اعلان گردد و عقد ازدواج به اساس تعالیم اسلام صورت گیرد ، درس قرآن و زبان عربي در مدارس تدریس شود و ... این همه فعالیت هاي حزب رفاه که غرض بنیان گذاري یك حکومت اسلامي صورت میگرفت و به گذشت زمان از حمایه وسیع مردم برخوردار میگردید براي حلقه هاي مقتدر به خصوص نظامیان سیکولر ترکیه و اربابان بین المللي آنها قابل تحمل نبود، همان بود که " حکومت ملکي ترکیه که نشانه، از دموکراسي نیمه بند در آن ملك بود در نتیجه یك اقدام نظامي به تحریك امریکا در سال ۱۹۸۰م سرنگون گردید . اربکان و تعداد از اعضاي بلند پایه رفاه به زندان کشانیده شدند و ایوریم سرغنه، نظامیان ، سال ۱۹۸۱ را سال اتاترك اعلان داشته اکلیل گل بر قبر اتاترك نهاد .

نظامیان اتاترکي که خود را حامیان جمهوریت و دموکراسي در ترکیه معرفي میداشتند محصلین را از داشتن ریش در پوهنتون ها منع کرده و حجاب اسلامي را ممنوع قرار دادند و به این صورت به آزادي هاي دیني و شخصي مردم خود احترام نگذاشتند !!

لوي څارنوال نظامي ترکیه به جرم « فعالیت هاي دیني که مخالف روحیه اساسات قانون اساسي سیکولر ترکیه پنداشته میشد براي اربکان و رفقاي دیني اش از ۱٤ الي ۳۶ سال حبس مطالبه کرد لوي څارنوال نظامي، اتهامات وارده به اربکان را در مقابل محکمه چنین شمرد :

۱ – کوشش بر تبدیل کردن اساسات سیکولرستي دولت قانوني ترکیه به اساسات و مفاهیم اسلامي . ۲ – تأسیس سازمان هاي اجتماعي غرض تنفیذ و عملي کردن شریعت اسلامي ۳– اجتماعات و شعایر حزب بیانگر مرام و اهداف حزب است از جمله شعار : محمد «ص» پیشواي ماست ، بت ها را مي شکنیم و دولت اسلامي را بر پا میداریم ٤ – از مردم میخواهم که در اجتماعات خیاباني الله اکبر بگویند . څارنوال ده ها از این قبیل به اصطلاح جرم را علیه اربکان در مقابل محکمه ارائه داشت که مبین اهداف مقدس اسلامي حزب رفاه بوده و نشاندهنده دشمني زمامداران نظامي ترکیه علیه اسلام میباشد .

امروز باز هم به اصطلاح تاریخ تکرار میگردد ، کمیسیون قانون اساسي ترکیه که در قید غل و زنجیر نظامیان قرار دارد حزب رفاه را به جرم فعالیت هاي اسلامي که مخالف روحیه قانون اساسي ترکیه پنداشته میشود منحل اعلان میدارند – انا لله و انا ... – گرچه ملت مسلمان ترکیه در طول این یك قرن از آزادي هاي دیني و فردي به کلي محروم بوده و حزب اسلامي رفاه هم براي اولین بار به چنین بي عدالتي و ظلم نظامیان مواجه نگردیده بلکه بار ها طعم تلخ اقدامات نظامیان را مقابل خود چشیده و مردانه وار با پیشه کردن صبر، حزم و تدبیر به مسیر انتخابي خویش ادامه داده است و این بار هم ان شاء الله از بته این آزمایش و ابتلاء موفق به در خواهد آمد

اما سخن در اینجاست که چرا کمیسیون قانون اساسي ، پارلمان و حکومت به اصطلاح انتخابي ترکیه که خود و قانون اساسي ترکیه را مظهر اراده مردم خود و حامي دموکراسي میدانند به چنین عمل دست میزنند که سراسر تخطي از روحیه دموکراسي و اراده، ملت مسلمان ترکیه میباشد . کمیسیون قانون اساسي ترکیه که خود را حامي قانون اساسي سیکولر ترکیه میداند البته دانسته خواهد بود که قانون اساسي ترکیه از تقدس و روحیه دیني برخوردار نمي باشد که نظر و اراده مردم در آن دخیل نباشد و این را هم خواهم دانست که در نظام هاي جمهوري و دموکراسي مستقیم توسط مردم و یا نماینده هاي انتخابي اوشان قوانین ملك خویش را اساس ، شکل و رنگ میبخشند . آیا کمیسیون اساسي ترکیه از این آگاهي نداشتند که حزب رفاه تنها بیش از ٤ ملیون اعضا متعهد و ملیون ها اعضاي متحد و متفق با خود دارد و در انتخابات اخیر ترکیه اکثریت آرا مردم را به دست آورده است ، آیا حمایه مردم از اهداف اسلامي حزب رفاه به این معني نخواهد بود که مردم مسلمان ترکیه خواهان اسلام میباشند و قانون موجوده سیکولر ترکیه را به طور غیر مستقیم رد نموده اند؟ باز به کدام مجوز قانوني و وجداني کمیسیون قانون اساسي ترکیه به چنین اقدام غیر عادلانه دست میزنند ؟ جواب این پرسش ها را به کمیسیون قانون اساسي ترکیه و وجدان آزاد جامعه بشري سپرده میبینیم که حامین حقوق بشري و دموکراسي در جهان در مقابل این پیشامد چه اقدام از خود نشان خواهند داد و چگونه دموکراسي به دار آویخته شده را در ترکیه از دار به عزت و شرف پائین خواهند آورد .

باید خاطر نشان نمود اگر جوامع بشري در مقابل این اقدام زمامداران ترکیه عکس العمل لازم از خود نشان ندهند و خداي ناخواسته مردم ترکیه دامن صبر و احتیاط را از دست بدهند چه تضمین در میان خواهد بود که ترکیه در آینده ها به الجزایر دوم مبدل نگردد که در این صورت بار گناه بر دوش کي خواهد شد ؟ آیا باز هم طرفداران دموکراسي و حقوق بشري همچون در الجزایر از حوادث در پیش، علیه اسلام و اسلام پسندان به نفع خود ها کار خواهند گرفت؟ و بار گناه را به دوش مظلومین مسلمان خواهند انداخت؟ طوریکه در الجزایر چنین کردند و میکنند.

مزدوري راكه شما ميبينيد او امير المؤمنين است

روستايي

از عراق يك زن بيوه بخاطر رفع مشكل فرزندان يتيم خويش به شهر دمشق مركز خلافت اسلامي آمده و از مردم پرسيد كه آيا در دروازه امير المؤمنين حضرت عمر بن عبدالعزيز دربان است و يا خير ؟ در جواب گفتند كه هيچ دربان وجود نداشته آزادانه بداخل خانه برويد.

هنگاميكه زن مذكور داخل خانه امير المؤمنين گرديد كه اهليه (همسر) امير مصروف پختن نان بود. بعد از سلام و تعارف زن نو وارد عراقي با حيرت تمام هر طرف خانه را نگاه نموده گفت : « من آمده بودم كه از فياضي اين خانه، خانه خويشرا آباد نمايم ولي مي بينم كه اين خانه خود ويران (ساده و غريبانه) مي باشد كجا خانه مرا آباد نمايد » .

در هنگام اين گفتگو حضرت عمر بن عبدالعزيز «رض» به صحن حويلي داخل گرديد، و از چاه آب كشيده صحن حويلي خانه را آب پاشي نمود.

مهمان نو وارد (بيوه زن عراقي) متوجه حضرت امير گرديده و براي خانم امير گفت : « بي بي شما پرده كنيد (چادر خويشرا بروي خود افگنيد) كه اين مزدور بطرف شما چند بار نظر نمود » فاطمه خانم امير المؤمنين تبسم نموده گفت « مزدوري را كه شما مي بينيد او امير المؤمنين است » بعد از انجام كار حضرت عمر بن عبدالعزيز داخل خانه گرديده و اهليه خود را پرسيدند كه اين زن كيست ؟ و از كجا آمده است ؟

همسر شان در جواب گفتند كه از عراق آمده مي خواهد با شما ملاقات نمايد .

خليفه اسلام آنزن را نزد خويش خواسته جويا احوال وي شد. بيوه زن مذكور اظهار نمود : كه بخاطر مدد خواستن كفالت پنج فرزند خويش كه هر پنج شان بي پروا و بي شعور مي باشند پدر ايشان يعني شوهرش نيز فوت نموده از عراق دربنجا آمده است .

حضرت امير المومنين فرمودند : جاي افسوس پنج طفل داري هر پنج شان بي شعور و بي پروا اند » بدون درنگ و توقف براي حاكم عراق نامه تحرير نموده از بيره زن پرسيدند كه فرزندان شما چه نام دارند ؟ موصوف نام هر كدام از پسران خويشرا گفته و حضرت امير براي هر يك وظيفه جداگانه مقرر مي نمود، بيوه زن به نسبت تعين وظيفه هر يك الحمد لله ميگفت در نوبت پسر پنجم خويش بيوه زن درين مرتبه از فرط خوشحالي و مسرت زياد بعوض الحمد لله بدعاي نيك و توصيف در حق امير المؤمنين مشغول گرديد.

حضرت امير برايشان گفتند تا حال كه شكر خداوند «ج» ادا ميكردي، حمد و ثنا آن ذات كبريا را ميگفتي من نيز براي هر يك وظيفه عليحده مقرر نمودم در نوبت فرزند پنجم خويش صفت و توصيف مرا شروع كردي كه گويا وظيفه مقرر كردن منم بناءً براي فرزند پنجم شما وظيفه مقرر نشد به آن چهار ديگر از پسران خويش بگو هر كدام از وظيفه خود براي آن برادر پنجم خويش كمك و مساعدت نمايند .

از واقعه متذكره به وضوح معلوم ميگردد كه امراء، زمامداران و مسؤولين حكومتي جوامع اسلامي در گذشته با احساس ترين افراد جامعه را در قبال وظايف محوله و با عاطفه ترين افراد جامعه بشري را تشكيل داده و هيچ مانع ميان اوشان و افراد ملت شان در ميان نبوده است .

دادب مرغلري

د شريعت په گلشن كي

نصر الله حافظ

گلشن د شريعت كي د گلونو پسرلي دي
رنگ په رنگ گلان غوړيږي د وختونو پسرلي دي
ځه خوري خوري وريمي دي دي د گلو په محفل كي
معطر به دي د ماغ كړي د عطرونو پسرلي دي
دي گلشن ته خزان نشته هميشه بهار په كي وي
ميلمه دلته كي د عمر او كلونو پسرلي دي
پتنگانو هله وكړي وخت د سوز در نه تيريږي
د عرفان ډيوه بليږي د سازونو پسرلي دي
محفل گل دي ساقي گل دي د مجلس باران گلونه
لاس په لاس په كي گرځيږي د جامونو پسرلي دي
سره لاله راتوكيدلي د شهيد په مزار گوره
غوړيدلي بي په زړه كي د زخمونو پسرلي دي
هره خوا گلونه لوني د ښكلا ؤ په وطن كي
گرانه دا زموږ د ميني د خوبونو پسرلي دي
ولي گرځي را نه لري اي زما د ميني ياره
راشه غم سره شريك كړو د دردونو پسرلي دي
د خزان توري لښكري چي په ماتي ورنه خغلي
دا زموږه د زلميو د هوډونو پسرلي دي
چي زموږ ميني ته گوري له حسرته لمبه كيږي
د غماز په بڼ راغلي د اورونو پسرلي دي

شريعت اونيزي ته

گوهري

مومن تل خوشحاليږي په گفتار د شريعت
كړي زيب له هر مومن سره كردار د شريعت
په چا كي چي شعور وي عقل فكر هم پكي وي
مدام به خريدار وي په بازار د شريعت
منم د نمرود اور بي دوباره سوځلي نشي
يو ځل چي ځوك ايره شي په انگار د شريعت
پتنگ غوندي به تل له دغي شمعي راچورليږي
د چاچي زړه تړلي وي په تار د شريعت
احكام د شريعت خوبي بهادرُ او گوهر دي
رحمت دي هزار باروي په معمار د شريعت
دي لار كي سربښندل د پاكي ميني تقاضا ده
مړ نه دي كه شهيد شي په رفتار د شريعت
بري د دواړو كونو هغه چاته دي په برخه
چي تگ كړي مستقيم په سپينه لار د شريعت
ريښتيا انځور گري د شريعت پكي كاوه شي
شاباس په انځور كر شه د اخبار د شريعت
دوه كاله بي پوره شوه په دريم بي قدم كيښود
دي نغښتي دي اخبار كي لوي وقار د شريعت
اشعار او مضامين، ټول مطالب بي د كتو دي
عاشق دي «گوهري» په سپين رخسار د شريعت

شريعت

ډاكتر باز محمد

اي د خوږو زړو مرهمه ښه رحمته
اي د سترگو يخونكيه شريعته
ستا په هر ځاي كي رحمت او شفقت شته
اي د ميني معشوقي او محبته
د ستا لار ا هغه لار د ريښتيا ده
چي راغلي دا له حقه ښه حكمته
صفحات دي په ښكلا ښكلا ليكلي
بي ښكارا په هر فرهنگ كي مرحمته
باز محمد به دي د زړا په سترگو گوري
ځكه ډك بي شريعت له عدالته

شريعت اوونيزي ته

احمد شاه «وحدت»

ته زما د زړگي سربي شريعته
دا ته ځومره بختور بي شريعته
تا كښي ښه ښه مضامين او قوانين دي
په دي ټولو منور بي شريعته
د هر چا د زړه اواز دي ځان ته را ښكوړ
ته په دي شمس و قمر بي شريعته
دا د وخت درو مرجان د مبارك شه
هر مريض لره بهتر بي شريعته
د هر چا درباندي لاس شايسته ښكاريږي
اميل د دراو گرهر بي شريعته
يوه كرښه د شكول راته توهين دي
په ما گران زما ځيگر بي شريعته
په لومړي مخ كي ايت حديث ستا وينم
ته پري ښكلي معطر بي شريعته
هره پاڼه دي قابل د احترام ده
ته زما «وحدت» بصر بي شريعته

زما د هيواد كنډوالي

خوشحال نسل

دا چي تن دلته چوپه چوپتيا ده، دا زما د جگړوځپلي هيواد خړي كنډوالي دي ددي ځمكي په هر لويشت كي په هره شيبه په لسگونو پيغلو ته هيلي په سپير و خاورو كي ښخي شويدي .

هو!

دا زما ويجاړ وطن دي چي جنت نښانه شايست بي د باروتو لمبو خوړلي، دا زما كور او زما د خاريوځو كوڅي دي ... هغه وړاندي چي ښكاري هغه زموږ د كلي منبوتڅي دي چي څه نا څه حر او سپيره ديوالونه بي د مظلوميت ژړا كړي، چنونه بي لويدلي، د روازي او كړكي بي ماتي شوي ... د دوو لسيزو راهيسي زما وطن د سولي ځخه مرور ؤ، بي رحمو كمونستانو پري ډيري نادودي وكړي، او د پرديو په تغو ته بي ډيري ناروا وي او ظلمونه وكړل ...

نو اوس !

دا ويجاړ كورونه او كلي به ځوك آباد وي ؟ ځوك به ددي كنډوالو ژړا او فريادونه آوري؟ آخر دا وطن هم پر چا حق لري، ده هم پخپله سپيځلي غيږه كي ځوك روزلي دي .

نو !

دا وطن تاسي ته سترگي په لار دي، ستاسي لاري څاري، نو راځي د اسلام او خپلواكي د بيرغ لاندي سره يو موټي شو او د اتلانو ټاټوبي، د شهيدانو د سپيڅلو هيلو او ميړاني خاوره او د نيكونو سوچه يادگار د بيا آبادي لپاره ځانونه سترې كړو او ددي خاوري د بچي په توگه د وطن د مور حق پر ځاي كړو .

كورني فقه

۲۰

مكروه روژه

قاضي محمد حسن "حقيار"

حضرت انس «رض» روايت كوي چي يو سړي د رسول الله «ص» حضور ته راغي او عرض بي وكړ چي: يا رسول الله «ص» زما سترگي درد كوي او زه روژه هم يم نو ايا زه رانجه كولي شم ؟ رسول الله «ص» ځواب وركړ هو. كولي بي شي ترملي

حضرت عايشه «رض» روايت كوي چي رسول الله «ص» په سترگو رانجه وكړل په داسي حال كي چي روژه و .بيهقي

ښځو ته دنداسه وهل هم روا ده همدا راز ډير روايات شته چي په مشروع زينتونو باندي روژه نه ماتيږي .

مكروه روژه

ژاولي(ساجق) ژول مكروه دي خو كه گيډي ته تري څه ورشي نو روژه ماتوي او كه گيډي ته تري څه لاړ نه شي نو روژ پري نه ماتيږي فتح القدير.

په روژه كي له ښځي سره فاحش مباشرت (د بدن بالكل لوڅوالي او د ځان مښل) د ښځي ښكلول او د شونډو رودل له امام ابو حنيفه نه په يو روايت سره مكروه دي خو كه د شهوت امن وو (د ځان د كنترول باور) نو بيا پروا نلري. د خاوند له اجازي پرته ښځي ته نفلي روژه، په اخترونو او د تشريق په ورځو كي روژه تحريمي مكروه ده كه چا په دي ورځ روژه ونيوله روژه بي صحيح ده خو له گناه سره او كه چاپه دي ورځ روژه ونيوله او بيابي وخوړه نو قضا بي پري نشته ده .

په كوچني اختر كي د دوه ورځو او په لوي [اختر] كي د دري ورځو د روژي د كراهت په هكله گڼ شمير احاديث راغلي دي طبراني له ابن عباس «رض» ځخه روايت كوي چي رسول الله «ص» د منیٰ په ورځو كي يو چيغه كوونكي وليږه چي خلكو ته په چيغو او لوړ اواز خبر وركړي چي : په دي ورځوكي روژه مه نيسي ځكه چي دا د خوراك، ځښاك او له ښځو سره د ساعت تيري اولويو ورځي دي»

په دار قطني كي راغلي دي چي رسول الله «ص» هزيل بن ورقاء «رض» وليږه او دي په اوښ سپوررو او چيغي بي وهلي چي رسول الله «ص» فرمايي « په دي ورځو كي روژه مه نيسئ ځكه چي دا د خوراك، ځښاك او له ښځو سره د ساعت تيري ورځي دي»

همدا راز دارقطني له عبدالله ابن حذافه نه روايت كړيدي چي زه (عبدالله ابن حذافه) رسول الله «ص» د منیٰ په ورځو كي وليږلم تر څو د خلكو په منځ كي چيغي كړم او خلك خبر كړم چي اي خلكو په دي ورځو كي ...»

نو له دي او داسي نورو رواياتو نه ځرگنديږي چي رسول الله «ص» د منیٰ په ورځوكي خپلو ډيرو صحابه و ته دا وظيفه وركړيوه چي خلك خبر كړي او په دي بي وپوهوي چي په دي ورځو كي روژه ښه نه ده . د رسول الله «ص» له پلوه د دومره ډيرو صحابه و ئوظيفول او تاكيد ددي ځرگندوي دي چي رسول الله «ص» په دي ورځو كي له روژي نيولو نه په سخته منع كړيده او دا ورځي بي د لوي خداي«ج» په دربار كي د ميلمستيا ورځي بللي دي او چا ته چي كوم بنده د ميلمستيا بلنه وركړي نو د ميلمستيا اجابت (منته) واجب ده نو د الله په ميلمستيا كي د نه گډون په هكله مو څه فكر دي ؟ ځني له دين نه نا خبره خلك او په ځانگړي ډول زموږ د ټولني ښځي د اختر په ورځو كي روژه د ډير ، ثواب په نيت نيسي خو دوي بايد په دي پوه شي چي په دي ورځو كي روژه د ثواب په ځاي وبال ده بايد په دي ورځوكي د الله د نعمتونو په خوړلو د الله «ج» په ميلمستيا كي گډون وكړل شي .

د مباشتي له نهم او يوولسم پرته يواځي د عاشوري په ورځ روژه نيول ، مگر دا چي دده د عادت له ورځو سره سمون وخوري، يوازي د نوروز په ورځ روژه كيدل ، يواځي د جمعي په ورځ روژه نيول صيام الدهر (ټول عمر روژه نيول) صوم الصمت (چي روژه ونيسي او خبري ونكړي) د مسافر لپاره روژه نيول خو چي په تكليفوي بي، درمضان له راتللو مخكي يواځي د شعبان ديرشم،يا نهه ويشتم او ديرشم روژه نيول مكروه دي خو كه ډيري ورځي روژه نيسي نو روا ده كتاب الفقه علي المذاهب ج ۱ ص ٤٤٠ .

په اوني كي د روژي لپاره يوه خاصه ورځ ټاكل، كه چيري ځوك ويريده چي كه رگ ووهي نو روژي ته به بي كمزوري كړي نو دا ټول صورتونه مكروه دي . اما مالك «رح» وايي چي د مولود (د رسول الله «ص» پيدايښت) په ورځ هم روژه مكروه ده ځكه دا ورځ د اختر په څيسر ده او دده په نزد د كسوريه له اجازي پرته ميلمه ته هم روژه مكروه ده .

په نفلي يا فرضي روژو كي د هغه شي ځكل(ذايقه) چي گيډي ته بي داخليدل روا نه وي مگر د ضرورت په وخت كي رواه ده مثلاً ښځي ته روا ده چي د طعام (ډوډي، قتغ...) د مالگي ، مرچ او خوند معلومولو لپاره دا شبان په ژبه وځكي همد راز د پخوونكي (اشپز) لپاره هم رواه ده چي د هغه څه خوند وگوري چي دي بي پخوي. همدا راز د پيرونكي اخستونكي لپاره هم روا ده چي دغښن او تېگي له ويري كه د خوړلويا ځښلو شي پيري خوند بي ځانته معلومه كړي .

بي له اړتيا د څه شي ژوول هم روا ندي خو د ضرورت په وخت كي كه روژه دار څه شي ژوي نوورته روا ده مثلاً كه كوچني ويږي وي او په خپله خوراك نه شي كولي او داسي ځوك هم نه وي چي افطار ورته روا وي او دي كوچني ته خواړه وژوي نو ددي كوچني صورته روا ده چي خپل طفل ته په خپله خوله كي خواړه ښه وژوي خو البته ډير احتياط به كوي چي خواړه بي له حلق نه تير نه شي او كه د احتياط سر بيره بي هم خواړه تير شول نو د خطا حكم پري تطبيقيږي او يوازي قضاء پري لازمه ده .

زنان برگزيده جهان اسلام
حضرت ام عماره «رض»
مظهر مقاومت و تسليم ناپذيري

۱۰

پوهيالي ليلما «يما»

نام مباركش نسيبه است، اما بيشتر بر كنيتش (ام عماره) مشهور است . نام پدرش كوب و ازمادرش رباب بود . چهل سال قبل از هجرت در مدينه منوره تولد يافته است و خود از جمله انصار بود. شوهر اولش پسر كاكايش بود كه از وي دو پسر رشيد نصيب ام عماره گشت به نامهاي عبدالله «رض» و حبيب«رض» و بعد از فوت شوهر اول با يكي از انصار به نام غزيه «رض» ازدواج كرد از وي نيز دو فرزند داشت .

حضرت پيامبر بزرگوار اسلام ميفرمايد : « در جنگ احد كه به هر طرف نظر ميكردم ام عماره ديده ميشد اگر سوي يمين نگاه مي انداختم ام عماره و اگر به يسار نگاه ميكردم ام عماره به نظر ميِ آمد. »

چه چيزي باعث شد كه ام عماره در نگاه سرور كاينات از چنين يك موقف و موقعيت بالا و بلند برخوردار گرديد ؟ اين موقعيت والا را مقاومت و تسليم نا پذيري وي در ميدان آن غزوه به وي اعطا كرده بود .

با شهيد شدن حضرت حمزه «رض» از جانب كفار آوازه پخش شد كه حضرت پيامبر اسلام«ص» به شهادت رسيده است . همين بود كه پراگنده گي پديد آمد . و يك تعداد معدود كه شمار شان از سرانگشتان دو دست تجاوز نميكرد، باقيماندند و ديگران همه راه فرار را در پيش گرفتند .

در جمع همين تعداد معدود حضرت ام عماره«رض» با غزيه شوهرش و حبيب «رض» و عبدالله «رض» دو پسرش به چشم ميخوردند. حضرت ام عماره«رض» در اين غزوه مشك به دوش بوده، وظيفه آب دادن به تشنگان و بستن زخم هاي مجروحين را بر عهده داشت .

وقتي حضرت ام عماره«رض» پراگنده گي صفوف مسلمانان را بعد از به شهادت رسيدن حضرت حمزه «رض» مشاهده كرد و ديد كه كفار چون گرگان گرسنه تصميم دارند به طرف پيامبر هجوم آورند. به خاطر ام عماره«رض» آن عهد و پيماني آمد كه در سال سيزدهم رسالت با هفتادو سه تن ديگر از اهالي مدينه در ميان كوه مكه به حضرت پيامبر «ص» بيعت عقبه نمود كه در آن گفته شده بود كه اگر آن مبارك به مدينه تشريف بياورد مردم مدينه جان ، مال و اولاد خود را فداي دين حق ميسازند. پس مشك را به يكسو نهاده، خود شمشير بدست گرفته و به مبارزه، رو در رو با كفار داخل ميدان محاربه گرديد و چون سد استوار در دفاع از حضرت پيامبر ايستاده شد. روايت است كه چون ام عماره«رض» سپر نداشت بناءً پيامبر بزرگوار، صحابي را اشاره فرمود تا سپر خويش را به ام عماره«رض» بدهد . صحابي چنان كرد و ام عماره«رض» سپر را بدست گرفته و تير ها و شمشير هاي دشمنان را با آن مدافعه كردن گرفت .

كفار از هر سو حمله مي آوردند و ام عماره«رض» با تمام قوت خويش حملات دشمن را دفع و طرد ميكرد و نميگذاشت تير هاي شان به جان مبارك رسول الله«ص» اصابت كند. چون جنگ پياده و سوار با هم برابري كرده نميتواند و كفار سوار بودند و ام عماره«رض» و عده يي ديگري از مسلمانان پياده مي جنگيدند بناءً ام عماره«رض» تدبير ديگري به خرج داد و آن ، طوري بود كه اگر سواري ميتوانست به اثر مقاومت از نزد ام عماره«رض» پيش برود ، ام عماره«رض» با شمشير خويش از عقب ضربه، محكمي به پاي اسپ سوار مسلح وارد مي آورد كه سوار با اسپ خويش نقش زمين ميشد و بعد ام عماره و پسر شجاعش عبدالله كار سوار را به پايان ميرسانتند.

باز هم روايت است كه حضرت ام عماره«رض» و پسرش عبدالله مشغول حفاظت رسول خدا بودند كه يك مشرك از عقب ضربه، محكمي بر بازوي عبدالله وارد آورد. با وجودي كه از زخم عبدالله خون ميرفت باز هم از مبارزه دست نكشيد و همچنان مي جنگيد. وقتي رسول خدا«ص» متوجه زخم عميق عبدالله شد. ام عماره«رض» را فرمود تا زخم عبدالله را بند (بنداژ) نهد، نزد ام عماره«رض» كه به همين منظور بند هاي فراوان موجود بود، يكي را بيرون آورده و زخم عبدالله را محكم بسته كرد. چون عبدالله خون زياد ضايع كرده بود ، نميتوانست از زمين بلند شود ، اما ام عماره«رض» پسر را دلداري داده گفت : فرزندم برخيز و مقاتله كن . رسول خدا كه متوجه اين گفت ؤ گوي ام عماره«رض» با پسرش بود گفت : اي ام عماره هر شخصي كجا آن طاقت دارد كه تو داري! در همين لحظه سواري كه عبدالله را مجروح كرده بود دو باره ميل حمله به اين طرف كرد . حضرت ام عماره«رض» بر خاسته و چنان ضرب محكم شمشير بر ساق پايش وارد آورد كه ساقش قطع شد سوار به زمين افتاد و بعد ام عماره با ضربات متعدد شمشير نقش زمينش ساخت .

حضرت پيامبر تبسم نموده گفت : اي ام عماره خداي بزرگ عوض و انتقام تازه و خوب به تو اعطا فرمود.

جنگ ساعات متمادي به همين شدت خويش دوام كرد حضرت ام عماره «رض» زخم هاي فراواني برداشت و اما بدون كوچكترين احساس درد و ناراحتي مثل اينكه وجودش از فولاد باشد و هيچ درد را حس نكند، به دفاع و حمله خويش ادامه ميداد. در همين لحظه بود كه ملحدي از دور سنگي پرتاب كرد كه از اثر آن لب و دندان پائين رسول الله «ص» مجروح گرديد. و بعد ملحد مشهور ديگري به نام ابن قمه به ضرب شمشير دو حلقه، خود را به رخسار آن حضرت فرو برد. وقتي ابو عبيده «رض» آن دو حلقه را كشيد قطرات خون از رخسار مبارك چكيدن گرفت . ديدن اين صحنه حضرت ام عماره را ناراحت و بيتاب ساخت بناءً بر ابن قمه حمله ور گرديد اما او بر شانه اش ضرب شمشيري وارد آورد كه زخمش خيلي عميق بود، ولي با آنهم ام عماره از محاربه دست نكشيد چند ضرب بر ابن قمه وارد آورد، اما آن ملحد به اثر پوشيدن دو زره زخم نبرداشته از ميدان محاربه فرار كرد زخم هاي ام عماره بسيار عميق بود و خون آن تمام وجود آن مبارك را سرخ كرده بود، اما وي تا آخرين لحظات محاربه از پا نه ايستاد .

وقتي جنگ به پايان رسيد حضرت پيامبر اسلام خود ايستاده شده و در بستن زخم هاي اين زن شجاع و تسليم ناپذير هدايت فرمود، و آن بزرگوار خود آن روز اعلام كرد كه در معركه، امروز ام عماره از بسيار رزمنده گان سبقت جسته است . ام عماره در مقابل به رسول خدا عرض كرد كه يا رسو الله «ص» در حق من دعايي بفرما تا به معيت شما داخل جنت شوم . رسول خدا همين دعا را نمود بعد ام عماره«رض» گفت : بعد از اين در دنيا هر مصيبتي كه بر سرم بگذرد مطلقاً اعتنا به آن نميدهم .

معالجه، زخم هاي ام عماره«رض» يك سال دوام نمود و بعد از صحت يابي در غزواتي چون : خيبر، حنين يكجا با پيامبر اسلام شركت نموده است .

د کانونو او صنایعو د وزارت سرپرست او د شریعت اوونیزي پخواني مسؤول مدیر...

افغانستان کي حاکم فتنه او فساد خو هر چاته بالکل روښانه ده چي تشريح کول به يي دلته وخت وغواړي . نو اکثره درانده وسايل يا خو بيخي ودريدل او يا له داسي خطر سره مخامخ شول چي د دريدو په حال کي وو په داسي سختو شرايطو کي چي د هيچا دا تمه نه وه چه بيا به په ګران هيواد کي آرامي راځي د طالبانو اسلامي تحريك پيل شو ټولو طالبانو ورونو چه د ځواني ګلبڼ يي نوي غوړيدلي و او د قرآن کريم او حديثو په درسونو مشغول وو ددي لپاره چه په ګران هيواد کي د جهاد اهداف تحقق ومومي او د هيواد شهيد پاله خلك چه د جهاد په دوران کي يي د متجاوزينو له لاسه ډيري ناخوالي تيري کړي وي يو وار بيا د آرامي سا واخلي ميدان ته را ووتل چه د الله «ج» په خاص کومك او دعامو خلکو په ملګرتيا يي په ډير کم وخت کي د هيواد له زياتي برخي څخه د وحشت، بربريت، قتل ، ډاکي تور متو حش ځادر لري کړ او په ځاي يي د شريعت محمدي روښانه قانون پلي کړ دا که له يوه پلوه داسي شبي وي چه هر طرف ته افغانانان له خوشحالي نه په جامو کي نه ځائيدل خو له بل پلوه اګر که دوي ليدل چه دا طالبان دي هيڅ وسايل ورسره نه شته سړي وظيفي خوري او له الله «ج» پرته د هيڅ دولت کومك ورسره نه شته خو بيا هم د دښمنانو تبليغاتو ډير خلك له دي سرچ او فکر سره مخ کړي وو چي دا څنګه دومره په کمه موده کي دومره زيات پر مختګ وشو اګر که د روسانو او د هغوي د مزدورانو سره په مقابله کي د خداي نصرت دوي ته معلوم و خو بيا هم د انسي شيطانانو لخوا په دي فکر کي لويدل چه دا څوك دي! څوك ورسره مرسته کوي! له کومي خوا ګمارل شوي!دي اهداف يي څه دي په راتلونکي کي به څه غواړي .

نو ددي شبهاتو د لري کولو لپاره چه په ګران هيواد کي دننه او د باندي له هغو مهاجرينو سره چه په پاکستان، ايران، اروپا او امريکا کي اوسيدل هيڅ يوه داسي نشريه نه وه چه د دوي دا شبهات لري کړي نو په همدي خاطر موږ اراده وکړه چه اقلاً بايد يو، اوونيزه نشر ته وسپارو تر څو د [illegible] له اهدافو، تګلاري ، ارمانونو، هيلو څخه هيوادوال خبر کړو او د هيواد دننه ورځني بدلونونه خلکو ته واضح کړو چه وروسته مو له قندهار سره ارتباط ونيوه چي د محترم او عاليقدر امير المؤمنين لخوا د اجازي تر څنګ نوم هم راته وټاکل شي هغوي دا کار نيك وستايه او اوونيزي ته يي د شريعت اوونيزي نوم خوښ کړ . که دا له يو مخي داسي وخت و چه د ډيرو خلکو سوالونو ته يي ځواب وايه خو بل طرف ته داسي اقتصادي مشکلات هم وو چه که يوه ګڼه به مو په څه تکليف چاپ کړه نو د بلي ګڼي لپاره به په سرچ او فکر کي وو چي راتلونکي ګڼه به په څه چاپوو ؟ خو لکه څنګه چه د طالبانو ورونو سره په سنګرونو کي د خداي «ج» خاصه مرسته او کومك ملګري و همداسي موږ هم د الله «ج» په مرسته او خاصه همکاري قدم پر قدم په مخ روان وو حتي په کم وخت کي له هغو ورځپانو او اوونيزو څخه چه په کلونو کلونو يي د ډيرو زياتو مطبوعاتي وسايلو او مجربو اشخاصو لخوا خپريدل ميدان يوړ . په ډيره کمه موده کي يي د پاکستان په مختلفو ښارونو او کمپونو کي او همدا رنګه په اروپا، امريکا عربي ملکونو کي زيات لوستونکي پيدا کړل که يو طرف ته ددي خلکو د طالبانو له اسلامي تحريك سره زياته مينه وه بل طرف ته خداي«ج» ورته ليکوالان هم داسي مجرب مخلص علمي شخصيتونه پيدا کړل چه هر يو مضمون يي خلکو د کتاب په څير له ځان سره ساتلي دي دا ليکوالان هر يو محترم مولوي صاحب رحيم الله «زرمتي» چه د افغانستان له متدينو يا عمله علماؤ څخه دي او مطبوعاتي ميدان کي زياته تجربه لري چه د جهاد په وخت کي د حرکت د فرهنګي کميټي مسؤول هم پاته شوي و ، محترم مولوي عبدالحکيم «مجاهد» چه دبني زده کړي يي د کراچي په ښار کي د نيو ټاون په مدرسه کي سرته رسولي ده او په سياست او انګريزي ژبو کي يي هم ماستري تر لاسه کړيده چه د جهاد په وخت کي د حرکت انقلاب اسلامي د سياسي دفتر مسؤول هم پاتي شوي و . بل يي محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» ووچه اوس د همدي اوونيزي مسؤول مدير هم دي او پخوا يي په کابل کي د ندا، حق ورځپاڼي کي چه د خدام الفرقان لخوا چاپيدله فعاليتونه اخستي ده چه اوونيزه په خپل وخت کي د هيواد يواځني ښه اسلامي اوونيزه وه نوموړي په مضامينو په ليکلو کي ښه تجربه لري چه په دي اساس يي په خپل وخت کي د شريعت اوونيزي لپاره داسي مضامين تهيه کول چه د وخت له تقاضا سره به ښه موافق وو . بل هم محترم حنفي صاحب و چه د اخبار په ديزاين کي يي ښه تجربه لرله نور هم داسي مخلص طالبان راسره وو چه شپه ورځ يي ددي اوونيزي د لاښه مقبوليت او خلکو ته د رسيدلو لپاره په ځان يو کړي وو همدا عوامل وو چه دي اوونيزي په ډير کم وخت کي په ټوله دنيا کي زيات ښه شهرت او مقبوليت پيدا کړ .

د دوهمي پوښتني ځواب :

په تاسيس کي يي يواځي مانه، بلکي له ما نه زيات محترم الحاج مولوي محمد صادق، محترم الحاج مولوي نور محمد «ثاقب» ، محترم الحاج مولوي شهاب الدين دلاور، محترم الحاج مولوي محمد مسلم حقاني دامت برکاتهم کوششونه کړي په ابتدا کي چه زموږ تجربه کمه وه دوي د اخبار د سانسور، د تحريك له پاليسي سره د مضامينو په برابرولو کي زيات کوښښونه کړي دي اوس له اوونيزي سره زموږ د اړيکو د کښت لا مل دا نه دي چي ګويا موږ له اخبار سره دلچسپي او خواخوږي نه لرو بلکه لامل دا دي چي موږ په اوسنيو مسؤولينو ښه باور لرو چه دوي دا کار په ډيره ښه طريقه او کاميابي پر مخ بيايي .

دوهم لامل دراپر غاړه اچول شوي مسووليت بوج دي چي اوچتول يي ډير دروند کار دي که شپه او ورځ هم کار وکړو نو بيا هم زما په نظر به ددي رنګ هيواد د بيا ودانۍ لپاره ډير کم وي .

دا يو ځل بيا روښانوم چي که د خپلو مصروفيتانو له کبله ډير وخت ستاسو په ګرامونه حاضر شوي نه يم دا ددي معنا نه لري چه زه د نوموړي اوونيزي سره علاقه نه لرم بلکي په اوسنيو مسؤولينو مو زيات اعتماد دي چه دوي دا کار په ډير زيات اخلاص پر مخ بيايي او بل مو د وزارت زيات کارونه دي چه کيناستل ور څخه راته ګناه ښکاري . الله «ج» مو په دارينو کي له موږ سره مؤفق لره .

د کندز ولایت مشهور جهادي شخصیت ...

خدمت لپاره به د هيڅ قسم قرباني نه دريغ نه کوم .

پوښتنه : تاسي په دي نږدي وختو کي له کندز څخه تشريف راوړي ده خپل ولايت په شاوخوا سيمو کښي نظامي حالات څنګه څيړي ؟

ځواب : لله الحمد په کندز ولايت کي نظامي حالت ډير ښه او د ولايت په شمول ټولي ولسوالي د اسلامي تحريك ده قواو په کنترول کي دي او پر دي سربيره د اسلامي تحريك قواوي په دي توانيدلي چه د تخار بعضي سيمي لکه بنګي دره او نوري سيمي تر خپل کنترول لاندي راولي او في الحال خپله د تخار ولايت د اسلامي اردو د ځواکونو تر تهديد لاندي دي .

پوښتنه : په کندز کښي د اسلامي تحريك په اړوند د عام ولس غبرګون څنګه دي ؟

ځواب : د کندز د مومن ولس غبرګون، د طالبانو د اسلامي تحريك په هکله ډير ښه دي او د اسلامي تحريك له قواو سره اوږه په اوږه د شر او فساد د عناصرو په مقابل کښي جنګيږي او له هيڅ قسم قرباني نه دريغ نه کوي ځکه چه د اسلامي تحريك په راتګ سره اسلامي قانون نافذ، امنيت تأمين او د ولس ټول مشکلات چه د قدرت طلبه او خود خواه عناصرو له خوا ورته پيښ وو حل او فصل شوي چي دا د کندز ولايت د عامه ولس ارزو وه .

پوښتنه : په خپل ولايت کښي د اسلامي تحريك له راتګ سره څه تغييرات وينې او د کندز د بيا ودانولو په لار کښي مو څه اقدامات کړي دي .

ځواب : په کندز ولايت کښي د اسلامي تحريك په راتګ سره ډير تغييرات راغلي، اسلامي نظام حاکم دي امنيت تأمين دي د کندز ټول اوسيدونکي د وروري په فضا کښي ژوند تيروي او د قدرت طلبه او خود خواه عناصرو چه د خپل شخصي اغراضو لپاره يي د خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کړي او اسلامي قانون يي تر پښو لاندي کړي وو تغر ټول شو . همدا رنګه کندز د اسلامي تحريك په راتګ سره د بيا ودانولو په درشل کښي دي پر مساجدو مدارسو سر کونو باندي کارونه شروع دي او هغه ابادي چه د شر او فساد په وخت کښي وراني شوي وي د بيا ودانيدلو په حالت کښي دي .

پوښتنه : په شمال کښي د مخالفينو وضعيت څنګه څيړي او د هغوي د راتلونکي په هکله د عامه ولس ذهنيت څنګه ارزيابي کوي ؟

ځواب : په شمال کښي د مخالفينو وضعيت ډير خراب دي خپل منځي اختلافات يي نهايت زيات دي د يو بل له پښو نه خاوري باسي او يو بل ته په کمين کښي ناست دي لنډه دا چه واحده اداره نه لري چه خپل کارونه پر مخ بوځي او دا ډير ضعيفه وضعيت دي ځکه چه د دوي په هره قريه کښي ځانته حکومت دي . او عامه ولس د دوي په هکله هيڅ ښه ذهنيت نه لري ځکه چه عامه ولس د دوي د ظلمونو او بربريتونو نه پوزي ته راغلي دي هلته خلك ديته چمتو دي چي د طالبانو د اسلامي تحريك سره خپل پيوستون اعلان او د مليشو پر خلاف قيام وکړي .

پوښتنه : دا چي تاسي په دي نږدي ورځو کښي له عاليقدر امير المؤمنين سره کتلي دي د هغوي له مجلس نه مو څه نتيجه لاس ته راوړه ؟

ځواب : ده الله «ج» ته ډير راضي يو چه پدي بي وتوانولو چه عاليقدر امير المؤمنين له نږدي نه ووينو او د هغه له مجلس او هداياتو نه برخمن وګرځو نو موږ دي نتيجي ته ورسيدلو چه بايد ټول خلك اسلامي قانون ته غاړه کيږدي او خپل د مشکلاتو حل صرف او صرف اسلام وګڼي او د اسلام په چوکاټ کښي د خپل وطن او خاوري خدمت وکړي او د اسلام د حاکميت لپاره بايد چه ټول خلك د امير المؤمنين تر قيادت لاندي را جمع شي او خپل مسلحانه جهاد ته ادامه ورکړي تر څو د لکونو شهيدانو، معيوبينو کونډو رنډو يتيمانو ارمانونه لاس ته راشي چه هغه اسلامي حاکميت دي .

پوښتنه : دا چه په شمال کښي ځيني مخالفو کسانو دا ادعا کړي چه کندز به له اسلامي تحريك او مجاهدينو څخه ونيسي تاسي پدي هکله څه وايئ ؟

ځواب : د مخالفينو دا ادعا بالکل بي ځايه ده او د خپل مورال بايللو قواوو د مورال لوړولو لپاره يي کړيده ځکه چه کندز دوي په هغه وقت کښي ونشو نيولاي چه صرف کندز د اسلامي تحريك تر کنترول لاندي وو نو اوس چه د کندز په شمول د ټولو ولسواليو او د تخار بعضي سيمي لکه دبنګي دره او نوري سيمي د اسلامي اردو په کنترول کښي دي او خپله د تخار ولايت د اسلامي اردو د ځواکونو تر تهديد لاندي دي نو انشاء الله په الهي نصرت سره به د اسلامي اردو ځواکونه د خپلو سنګرونو نه کلکه دفاع کوي او هيڅ کله به مخالفينو ته دا موقع ورنکړي چه يو قدم مخکي راشي بلکه موږ دا اميد لرو چه په ډيرو نږدي وختونو کښي به په الهي نصرت سره تخار بدخشان او د سمت شمال په نورو سيمو کښي د اسلامي امارت سپين بيرغ په رپيدو شي .

منحوس او سپیره الماس (کوه نور) د مغلو د سلطنت د زوال لامل شو

نادرشاه چي دا الماس واخستل نو چین هم دده په برخه نه شو او دي هم ووژل شو

لاهور جنګ :

جنګ ورځپاڼي په خپلي د جنوري څوارلسمي ۱۴ ګڼي کي د کوه نور تاريخي الماس په هکله په زړه پوري معلومات وړاندي کړيدي دا ورځپانه ليکي :د برطانيي په شاهي تاج کي ځړيدلي الماس (کوه نور) يو ايراني سوداګر مير جمله په کال ۱۶۵۶ کي شهزاده اورنګ زيب عالمګير ته ورکړي وو چي په دي ورځو کي ددکن پرنيولو بوخت وو د مير جمله اصل نوم سيد محمد سعيد وو او دي د اووه لسمي سليزي په لومړي نيمايي کي په حيدر اباد (د ګولکنده په پاچايي) کي اوسيده ده دلته د سلطان عبدالله قطب شاه والي ګولکنده خدمت کول ځانته غوره کړل چي ده له همدي ځايه د کرناټك د نيولو لپاره ولېږه چي د کرناټك له نيولو نه وروسته د الماسو لويه خزانه د مير جمله لاس ته ورغله چي (کوه نور) هم په همدي خزانه کي شامل وو او اورنګزيب دي الماسو ته د طاؤس په تخت کي ځاي ورکړ . الماس د يوي سليزي پوري په تخت کي ايښودل شوي وو تر دي چي نادر شاه په ډهلي حمله وکړه له نو مغل پاچا د طاؤس له تخت نه دا الماس راواخست او په خپله پګړۍ يي پټ کيښود. نادرشاه له دي کار نه خبر شو نو مغل پاچا محمد شاه يي په غيب کي ونيوه او ورته يي وويل چي سکهان او مرهټيان ستا په خلاف جنګيږي او کله چي دوي جنګ پيل کړ نو ما سره هيروه زه له همدا اوس نه ستا (پګړۍ بدل) وروريم دايي وويل او سمدستي يي خپله پګړۍ له خپل سر نه ښکته کړه او محمد شاه ته يي ورکړله . محمد شاه هم د مجبوريت له مخي خپله پګړۍ له خپل سر نه ښکته کړله او نادرشاه ته يي ورکړله نادرشاه چي له ده سره خپله پګړۍ بدله کړله نو لوي الماس په لاس ورغي چي دا يي وليد نو بي اختياره يي له خولي ووتل چي : (کوه نور)

تاريخ ليکونکي وايي چي دا الماس (کوه نور) منحوس اوسپيره پيژندل شويدي ځکه کله چي دا الماس د طاوس تخت ته ورسيد نو په مغلي حکومت زوال راغي څوارلسيزي له کورنيو جګړو او د سيمه ايزو دسيسو سره لاس په ګريوان وو، مغل پاچا ووژل شو .

نادرشاه ته هم له ايران نه په راستنيدلو چين په نصيب نه شو په خپلو زامنو بدګومانه شو او په کوچنيو کوچنيو خبرو يي خلك ووژل. رعيت او عوام دده د ظلم او ستم له لاس په تنګ راغلل تر دي چي يوه ورځ د خپلو خدمتګارانو له لاسه ووژل شو . بايد وويل شي چي دا الماس اوس هم د برطانيي په شاهي تاج کي ايښودل شويدي .

امکان بر قراري روابط بين ايران و امريکا موجود نمي باشد

خامنه اي رهبر روحاني ايران

روابط بين ايران و امريکا به نفع ملت ايران مي باشد

خاتمي رئيس جمهور ايران

در مورد بر قرار نمودن روابط بين ايران و امريکا بين رهبران ايران نظرات مختلف وجود داشته و دامنه اختلافات آنها روز تا روز توسعه مي يابد.

چنانچه چند روز قبل رئيس جمهور ايران «خاتمي» در طي پيام خويش عنواني مردم امريکا ابراز تمايل نموده و وانمود ساخته بود، که امکان بهتر شدن روابط بين ايران و امريکا وجود دارد. خاتمي بطور محتاطانه اظهار داشته بود که گويا روابط بين ايران و امريکا به نفع ملت ايران مي باشد. درين رابطه امريکا نيز عکس العمل مثبت نشان داده است .

بر خلاف آيت الله خامنه اي رهبر روحاني ايران ضمن سخنراني خويش در دانشگاه تهران امکان هر نوع گفت و شنود و روابط ايران را با امريکا رد نمود. خامنه اي که از لحاظ قدرت سياي مافوق رئيس جمهور «خاتمي» بوده و فرد اول محسوب ميگردد گفته است که حکومت امريکا دشمن اسلام و ملت ايران بوده، هيچ نوع مذاکرات با آنها صورت پذير نمي باشد.

بايد گفت که زعماي ايران در گذشته و تا کنون در يك دو رويي با اسلام و ملت خويش قرار داشته و سنگ اسلام و اسلاميت را بخاطر منافع قدرت و فريب نهضت هاي اسلامي به سينه خويش کوبيده اند. در حاليکه در زير پرده با دشمنان اسلام چون امريکا ، ژاندارم بين المللي صهيونيزم اسرائيل مصروف صحنه سازي و توطيه عليه نهضت هاي اصيل اسلامي مي باشند.

همين ايران بود که با زمزمه شعار هاي ظاهري که در عمل حتي هيچ تصور آنرا نميکردند زمينه را براي حمله امريکا عليه عراق و جابجا نمودن ده ها هزار عساکر امريکايي و ... در خليج فارس فراهم نموده اگر به حقيقت توجه شود ميتوان خامنه يي و همرديفان وي را مجرم بزرگ امت اسلامي قلمداد نمود .

حزب رفاه اسلامي در ترکيه ...

نميتوانند .

څارنوال دولتي محکمه مذکور استدلال نموده است که حزب رفاه اسلامي قوانين سيکولر ترکيه را در سال گذشته در زمان حکومت ايتلافي خويش زير پا نموده و ترکيه را بسوي اهداف اسلامي سوق مي داد .

حزب رفاه ، دولت ترکيه را متهم ساخته است که تلاش مي ورزد تا آن حزب را قرباني اميال خويش سازد که در حدود چهار ميلون نفر عضو دارد. حزب مذکور قبلاً اعلام داشته بود که آنها حزب ديگري را که داراي عين اهداف (حزب رفاه اسلامي) باشد تشکيل خواهند داد .

همچنان طي يك خبر ديگر تلاش شده است تا حزب تانسو چيلر نيز بخاطر همکاري در تشکيل حکومت ايتلافي حزب اسلامي رفاه غير قانوني اعلام گردد. مسعود يلماز صدراعظم حکومت سيکولر (غير مذهبي گويا مترقي) ترکيه تانسو چيلر رهبر حزب «ترويات» را مورد اتهام قرار داده است که گويا در حکومت نجم الدين اربکان ايفاي وظيفه در پست وزارت خارجه به مفهوم همکاري با مسلمانان بوده است

صدراعظم موصوف علاوه نموده است که از روي قانون جلو چنين حزب در انتخابات گرفته شده ميتواند .

د برطانيي حکومت د ...

تيره ورځ د برطانيي د ښوونې وزير ديو دلنکس د زده کړي د پاليسي د بيانولو په وخت کي په مشروط ډول د مسلمانانو لپاره د ځانګړو تعليمي ادارو اجازه ورکړله د زده کړي وزير په دي موقع د مسلمانانو له دوه و ادارو سره د مرستي اعلان هم وکړ چي يوه په لندن او بله مر منګهم کي موقعيت لري .

د انسان د جنس بدلول ...

ښځي به محکمه کي وويل چي غواړي په محکمه کي د قاضي په توګه کار وکړي نو ددي د نوم او جنس د تبديلي احکام دي ورکړل شي خو د کويت محکمي ددي ښځي غوښتنليك رد کړيدي او ويلي يي دي چي د جنس بدلول غير شرعي او غير اسلامي کار دي او په اسلام کي ددي کار اجازه نشته .

په ډهلي کي امنيتي ...

ناکامي وروسته له هر چا سره ويره او انديښنه پيدا شويده او خلك په ورځني ژوند کي له تشويش سره مخ دي د ډهلي پوليسو ويلي دي چي د حفاظتي اقداماتو د نشتوالي له مخي په ډهلي کي د يوي لويي حادثي احتمال شته دي

په خبر کي ويل شويدي چي په ډهلي کي شپږ نوري سينماګاني هم د امنيتي حالاتو د خرابوالي له امله تړل شويدي له دي سره په ډهلي کي د تړل شويو سينماګانو شمير لسو ته ورسيد .

امارت اسلامي افغانستان به ...

و شرعي بوده و در تکميل ايمان و شخصيت مسلمان ارزش بسزاي داشته و در تطبيق شريعت اسلامي و بلند رفتن هويت امارت اسلامي حيثيت سنگ تهداب را دارد. اميد است در مورد موضوع فوق نظر ما را غرض آگاهي مسوولين امور به نشر برسانيد.

با احترام

از طرف احمد قيس

و يکعده از جوانان شهر کابل

برادران محترم سلام هاي اداره هفته نامه شريعت را نيز بپذيريد . نامه تان را بدون کم و کاست به نشر سپرديم واقعاً موضوع مهمي را انگشت نشان نموده ايد ما هم به تائيد نظر تان آرزو ميکنيم تا مسؤولين امارت اسلامي در موضوع متذکره که البته يکي از موارد مصرف بيت المال نيز مي باشد توجه لازم خويش را مبذول خواهند فرمود.

اداره

آزادي هاي شخصي زنان ...

مي کند اما گفته مي شود که بعضي کارشناسان از اين فيصله غير اسلامي انتقاد کرده اند .

بايد گفت که ترکيه از جمله کشور هائيست که مسلمانان آنکشور در انتخابات سال گذشته اکثريت آراء خود را به حزب رفاه ترکيه که حزب مسلمانان بود داد و آنرا از طريق کاملاً ديموکراسي حاکم گشتاند ولي کشور هاي غربي و استکباري در اين کشور ديموکراسي را کاملاً زير پا نموده و حتي اين حزب را نيز منحل اعلان نمود و اکنون ميخواهد که بي حجابي را نيز عليه زنان اين کشور تحميل نمايد .

حکومت چين در نظر ...

نشان نداده است در حاليکه در چين به پيروان مذاهب نصرانيت و يهوديت هيچ خطري متوجه نبوده مشکل عمده در آنجا زنده گي مسلمانان بوده که به خطر جدي مواجه مي باشند. شايد حکومت امريکا و چين قتل عام مسلمانان را در سنکيانگ فراموش نموده و زمينه را بيش از پيش براي زير پا گذاشتن حقوق مسلمانان آنجا فراهم نمايند.

د امريکا جمهور رئيس بل ...

کلنټن پردي جنسي برید کړي چي ددي له مزاحمت سره مخامخ شو .

په محکمه کي پول جونز هم حاضره وه خو دي ته د خبرو اجازه نه وه په محکمه کي د پاول جونز وکيل غوښتنه وکړه که جمهور رئيس پاول جونز ته دوه مليونه دالره تاوانه ورکي اورسمي بخښنه تري وغواړي نو هغه به له دغي دعوي تيره شي .

بل کلنټن د جمهوري رياست په رسمي موټر کي په داسي حال کي چي خندني ؤ له محکمي نه ووت .

په امريکا کي د ښځو د آزادي او حقوقو تعبير او معنا همدا کيداي شي چي د عيش او جنسي غرايزو د مړښت لپاره وسيله وګرځي چي پورتني خبري يي ځرګند مثال دي .

د کروندي د تباهي له ...

په خبر کي ويل شويدي چي دي خلکو په سود پور اخستي و چي د خپلي کروندي ښه پالنه وکړي او ښه حاصل تري تر لاسه کړي خو د هواد خرابوالي او د باران د اورښتونو له کبله دا ټول فصلونه تباه شول او ۳۰ تنو په ځان وژني لاس پوري کړ چي د دوي تر ځان وژني وروسته د اندراپرديش صوبايي حکومت اعلان وکړ چي د دوي له ورثه و له هر يو سره به يو لك هندي کلداري مرسته وکړي خو ددي مرستي ورکول وځنډيدل چي له همدي امله تيره ورځ دي خلکو په مظاهرو لاس پوري کړ او له حکومت نه يي وغوښتل تر څو په خپله وعده وفا وکړي او دوي دا رقم وکړي چي دوي پري خپل پوروته خلاص کړي .

خاتمي په سي ان ان ...

خلاف ده .

دي ورځپانو ليکلي دي چي امريکا د ايران او د ټولي اسلامي نړۍ په خلاف شومي توطيي او دسيسي په کار اچولي دي او په کار ده چي امريکا ته د ټل لپاره د مسلمانانو د لوي دښمن په سترګه وکتل شي

رسالت ورځپاڼي ليکلي دي: خاتمي چي د ۱۹۷۹ د امريکا بي سفارت په اړه کومه وينا کړيده د ايران وقار يي له خاورو سره برابر کړيدي . ځکه ده په هغه واقعه افسوس ښکاره کړيدي په کومي چي ايراني ولس تل وياړي او له امريکا نه بايد تردي غټ غچ اخستل شوي وي .

ايراني ولس او ورځپانو له امريکا سره د ايران په نژديوالي ډير خفګان ښکاره کړيدي او ويلي يي چي د امريکا اسلام دښمنه کلتور د ايرانيانو له کلتور سره هيڅکله هم سمون نه شي خوړلي .

قدس ورځپانه ليکي چي د امريکا جمهور رئيس بايد هم د خاتمي په څير د ايران د سيمه يا له لاري ايراني قوم ته خطاب وکړي تر څو ايراني قوم هم دده له پاليسي نه خبر شي .

چينايي زراعتي متخصصينو ...

زراعت په چارو کي مرسته وشي او په غرونو کي دي ځاګاني وکيندل شي که په رښتيا هم د چينايانو په اصطلاح د زراعتي ماهرينو هدف د زراعت په چارو کي مرسته واي نو د افغانستان نورو زراعتي سيمو ته به يي خپل استازي استولي ؤو.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ مياشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

زموږ هيواد وال له پاکستان څخه د پيرودل شويو غنمو د رارسيدو په تمه دي

د روان کال د لړم د مياشتي په اتمه نيټه له پاکستان څخه د شپږ لکه ټنه غنمو د پيرودلو موافقه په اسلام اباد کي لاس ليك شوه . دغه موافقتنامه چي د افغانستان د اسلامي امارت لخوا په اسلام اباد کي افغان لوي سفير محترم مولوي شهاب الدين دلاور او د پاکستان له لوري د هغه هيواد د خوراك او زراعت ستر سکرتر لاس ليك کړي وه زموږ د کړيدلو هيواد والو لپاره ستر زيري او نيکمرغه خبر وه ، افغان ځوريدلي ولس چي کمونيستي ښکيلاك ګروپي ويني ځبيښلي او وروستيو څو کلنو کورنيو جګړو يي هډوکي شپيللي ؤ ددي موافقي ډير تود هر کلي وکړ . عام ولس ته دا هيلي پيدا شوي چي نور به انشاء الله په هيواد کي د غنمو د کموالي ستونزه تر ډيري مودي پوري په سترګو نشي او نور به د غنمو بيي لوړ والي دي حد ته نه رسيږي چي خواران به يي د بيه کولو جرأت هم نلري، د رسمي دايرو کارکوونکو او مامورينو خو دا خيال ؤ چي ددي غنمو په رارسيدو به که خداي کول د اسلامي امارت هغه ارادي چي مامورينو ته د کوپوني موادو د ويش د سيستم د بيا احيا په هکله يي درلودي د حقيقت جامي واغوندي او د کوپوني سيستم په بيا احيا سره به دوي نور مجبور نه وي چي له دفترونو څخه وخت ناوخته ځانونه ګوښه او د بوي ګړي ډوډي د پيدا کولو په خاطر خواري ته ملا وتړي. ددي غنمو په رارسيدو سره د احتکار او په مصنوعي ډول د بيو د لوړيدو مخه هم په آساني سره نيول کيدله، حتي د پاکستان لپاره هم دي تړون ډيري ګټي تر شا درلودي يو خو دا چي د هغه هيواد چارواکو او ولس ته به الله «ج» هغه اجرونه ورپه نصيب کړي ؤ کوم چي د يو مسلمان د ستونزو د لري کولو په اړه لوي خداي«ج» د هغه وعده کړي ده، بل دا چي له پاکستان څخه افغانستان ته داوړو د قاچاقو مخه به هم نيول شوي وه او بيا به په پاکستان کي قحطي نه را منځته کيده او سوداګرو به يي د احتکار هلي ځلي نه کولي ...

په رښتيا هم نوموړي تړون ډير له برکتونو څخه ډك ؤ او په عملي کيدو به يي زموږ غم ځپلي ولس تر ډير وخته بيا د لوړي سودا په سرکي نه ګرځوله خو لکه څنګه چي ليدل کيږي په داسي حال کي چي د تړون د لاسليك له ورځي څخه څه کم دري مياشتي تيري شوي خو د لوظنامي د پلي کيدو او هيواد ته ددغه پيرودل شويو غنمو د راوړو هيڅ نښي نښاني نه ښکاري حتي داسي څرګنديږي چي پاکستاني اړخ اوس په هغه هيواد کي د نوموړو غنمو په مصرف پيل کړي دي د سيمي د خبري سرچينو په حواله ويل کيږي چي د پاکستان حکومت له هغه غنمو څخه چي افغانستان ته يي تخصيص کړي ؤ د پنجاب د ايالت د لوي وزير ميان شهباز شريف د هڅو او غوښتني په اساس هغه ايالت ته ورکړيدي نو که د نوموړي لوظنامي د عملي کيدو چاري نور هم وځنډيږي دا ويره شته چي لاس ليك شوي موافقه له سترګو څخه غړانده،پاتي بي په دوسيو کي زړي او غنم بي په پاکستان کي مصرف شي .

که په هيواد کي د غنمو د اړتيا او د هيوادوالو خصوصاً د اسلامي امارت د مامورينو او کارکوونکو ستونزي چي د اوسنيو بيو په پام کي نيولو سره يي مياشتني تنخواه ډيره کمه ده په نظر کي ونيول شي نو لازمه ده چي د افغانستان د اسلامي امارت مسول چارواکي يو ځل بيا په دي هکله خپلي هڅي ژوندي او د شوي لوظنامي عملي کار ژر تر ژره پيل کړي، لازمه ده چي د تجارت وزارت او د ارزاقو او عامه اړتياو لوي رياست چي هيواد والو ته د خوراکي شيانو د برابرولو ستره او له ثواب څخه ډکه دنده په غاړه لري نوموړي موضوع تر څيړني او جدي تعقيب لاندي ونيسي او په اسلام اباد کي د اسلامي امارت له لوي سفارت سره د تماس او خبرو اترو له لاري پريکړه وکړي چي د غنمو د نه رارسيدو له کبله د هيواد والو د هيلو غوړيدلي غوټي بيرته مړاوي شي. په پاکستان کي د اسلامي امارت لوي سفارت هم بايد د مسؤوليت په اساس د پيرودل شويو غنمو د لاس ته راوړلو او هيواد ته د استولو په هکله چټك او موثر ګامونه اوچت کړي او د لوظنامي د عملي کيدو په لاره کي که کومي ستونزي منځته راغلي وي د اسلامي امارت د چارواکو په مرسته او له پاکستاني اړخ سره د ژر تر ژره تفاهم له لاري يي حل او په روانو شپو ورځو کي چي د خوراکي موادو بيي مخ په لوړيدو دي د نوموړو غنمو په لاس ته راوړلو سره د خپلو بي وزلو هيواد والو خاصتاً د اسلامي امارت د مامورينو او کارکوونکو له غربت څخه ژړانده شونډي بيا مسکي او دعايي تر لاسه کړي .

نمونه کارت طلاب و اعضاي رياست د افغانستان ځارندوي ټولنه

طلاب و اعضاي رياست د افغانستان ځارندوي ټولنه که مصروف خدمات اجتماعي در نقاط مختلف شهر کابل ميباشند توسط اين کارت مخصوص ځارندوي ، از موتر هاي ملي بس و سکتور خصوصي بدون اخذ کرايه استفاده کرده ميتوانند در هر موتر صرف دو نفر حاوي کارت مخصوص ځارندوي انتقال شده مي توانند .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar